دجهادي کاروان تجديد عهد

نور چل

اتم کال دریمه ، پرله پسې ۶۷ګڼه ، جمادی الاولی ۱۴۳۵ هـ ق ، مارچ ۲۰۱۴ ز

پدي ګڼه کې :

انتخابات به نفع اشرف غنی

نوی پسرلی دنوو زړو سره

آیاپوتین دپخوانۍ شوروي ...

جهاد کې له کفاروڅخه داستعانت یا مرستې ...

طریقه رفتار با مخالفان

دشرعي امیر تعریف ، حکم ، او غرض

یوازې په ښارونو کې د مجبورو

میاشتنۍ خبرونه

مورچل

اتم کال دریمه ، پرلپسي ۶۷ګڼه ،جمادی الالی ۱۴۳۵ مارچ

علمي،سیاسي اوجهادي میاشتینی خپرونه

ګڼه	مطلب	مخ
۱	دجهادي کاروان تجدیدعهد	۱
۲	انتخابات به نفع اشرف غنی	۲
۴	نوی پسرلی دنوو زهرو سره ؟.....	۵
۵	آیاپوتین دپخواني شوروي په لټه کې دی؟....	۷
۶	یوازي په بنارونو کې دمجبورو او مزدورو	۹
۷	دجهاد فقهي مسائل	۱۱
۸	دځرخ دولسونو څه ګناه وه؟.....	۱۸
۹	مورچل دار الافتاء	۲۲
۱۰	طریقه رفتار با مخالفان.....	۲۶
۱۱	ددعوت ،ارشاد،جلب اوجذب کمیسیون.....	۳۲
۱۲	دحضرت ابوهریرة رضی الله تعالی عنه مور ...	۳۴
۱۳	دشرعي امیر تعریف، حکم ، او غرض	۳۵
۱۴	طالبانو، د رژیم او غربي میډیا	۴۲
۱۵	جنګي جنایتونه (مارچ).....	۴۴
۱۶	شهیدې قافلې.....	۴۷
	روژه نیوونکو لپاره انرژي لرونکي میوې.....	۵۴
۱۷	میاشتني خبرونه.....	۵۵
۱۸	دمورچل ورځې	۷۱
۱۹	انځورېز مورچل.....	
۲۰	د تلفاتو میاشتنی جدول.....	
۲۱		

دامتیاز خاوند :

دافغانستان اسلامي امارت
دفرهنګی چارو کمیسیون

مسؤل مدیر

شکور (شفق)

کتنپلاوی :

حسن خپل، ایوب صافی،
حسن نوری ، حکمت بغلانی،
زبیر مسافر، حافظ سعید

تخنیکي چارې :

دفرهنګي کمیسیون تخنیکي څانګه

مکاتباتي ادرس :

پته : کابل بنار ،پنځمه حوزه، دمجلې دفتر

E-mail: baakhtaraf@yahoo.com

سرمقاله

دجهادي کاروان تجديد عهد

هيواد کې وروستيو فدايي ګوزارونو داسلام او خاورې دښمنان دومره وبوږنول تر دې چې په اصطلاح د ولسمشريزو ټولټاکنو نړيوال ناظرين چې دلويديځ ډوله انتخاباتو دځار لپاره هيواد کې ديره وو ، خپلې کډې بار کړې اوخپلو هيوادونو ته وتښتي ، دکابل دارګ په خوله کې دسرينا په هوټل ،دارالامان کې دټولټاکنو په ساحوي دفتر ، د لويديځ ديپلوماتيک دفتر تر چتر لاندې دکليسا په بنسټګرو ،دجلال آباد دځارندوی په حوزه کې هغه برېد چې دولايت مقام اوشاهي مانۍ يې تر کلکو ګوازرونو لاندې ونيوله او هم دکونړ په کابل بانک کې په داخلي عسکرو ډله ايز فدايي بريدونه او مزدورې اداړې او بادارنوته يې درانده تلفات اړول داسلامي امارت دمجاهدينو له تلپاتې جهادي بهير سره هغه تجديد عهد دی ،چې دښمنان يې وار خطا او مسلمان ولسونه يې په روحياتي ډګر کې پر ځان باوري کړي دي !

مجاهدينو ددې لپاره دې حساسو ورځو کې خپل فدايي او جبهيي عمليات تيز کړل، چې اشغالګرو ته ددې پيغام ور کړي چې ديوې خوا دامريکا په سر دمداری د لويديځو اشغالګرو هيوادونو لويديځ ډوله ټولټاکنې وننګوي ،تحريم يې کړي او بل ور ته دخپل جهادي اوږده تکل او هوډ ثبوت وښايي .

شک نشته چې دانتخاباتو روانه پروسه په تمامه معنی غولوونکې ده او کفري نړۍ غواړي چې دافغانستان په روايتي اسلامي ټولنه کې دلويديځ دبې مهاره ولسواکۍ کفري پديدي رواج دود کړي او ددې لارې څخه داسلامي زعامت دټاکلو شرعي موازين (خدای ج مکړه)په تدريجي ډول له منځه يوسي ،چې اسلامي نړۍ کې شرعي موازين له منځه وړل دکليسا دپاپانو هغه زوړ ارمان دی، چې ورته يې پيړۍ پيړۍ انتظار ايستلې او دترويج په لاره کې يې څه باندې يوه لسيزه ډيری لګښتونه کړي ،خو ډاډه يو چې داسلام سپيڅلی دين دافغان قام په زړه کې ژوړې ريښې غځولې اوپه دومره اسانۍ سره به اشغالګر طراحان ونکړ ای شي ،چې دې شومه هڅه کې کامياب شي !

روان جهادي تندرېز عمليات ، ددې هوډ تازه کوي، چې مجاهدين لاستومانه ندي او نه يې پر ديپالیو پديدو دايثار او قربانۍ عزم ټکنی کړی ،ديره نږدې به وي، چې دافغانستان نړيوال اشغالګر پلان ګزاران ددې پريکړه وکړي، چې افغانستان دمجاهدينو ټاتوبی او له شرعي نظام څخه پر ته پکې غربي ديموکراتيک نظامونه اولار نقشې د پايښت ور ندي !

انشاءالله تعالی



انتخابات به نفع اشرف غنی احمدزی به پایان میرسید

محمدالیاس عاصم

قابل درک است که امریکایها بعد از اشغال افغانستان نه میخواستند ماموران ونظامیان امریکایی را مستقیما بر افغانها مسلط نمایند ، زیرا حساسیت کشورها ، توده ها و جوامع را دقیقا زیر مطالعه داشتند و میدانستند که چنین اقدام به جای نفع به مراتب ضرر بیشتر دارد و مردم را علیه اشغالگران هنوز بسیج میسازد.

در ابتداء اشغال عراق امریکایها چنین گامی را برداشتند ، در نخست وهله دخول نیروهای امریکا به بغداد ، بوش جنرال امریکایی (پال بریمر) را من حیث ناظم امریکایی برای عراق تعین نمود ، ولی در کوتاه مدت بعد از سقوط یک هلیکوبتر چینوک امریکا در عراق که بیشتر از ۳۰ نظامی امریکای را طعمه حریق ساخت، رئیس جمهور بوش به بسیار علجه درک حساسیت کرده ، ماموریت (جنرال پال بریمر) را به پایان رساند و ظاهرا امور دولت داری عراق را به عراقی های مزدور سپرد.

در ابتداء اشغال افغانستان نیز امریکایها در تصور داشتند که زلمی خلیلزادرا به حیث ناظم امور در افغانستان تعین نمایند ولی با درک حساسیت های مردم، ظاهرا خلیلزاد را به

کرزی تعویض نمود ولی عملا باز هم خلیلزاد به بهانه سفیر امریکا در کابل، همه کاره ارگ بود وکرزی را از نزدیک رهبری می نمود.

امریکایها توانستند بیشتر از ده سال کرزی را من حیث مامور خود به ارگ کابل مسلط داشته باشند و از طریق وی ماموریت افغانستان را به پیش برند.

چون امریکا به حیث کشور وارد کننده، دیموکراسی، نه میتوانست کرزی را تا تداوم اشغال به کرسی ارگ نگه دارد مجبور بود عوض کرزی مامور دیگری را که بتواند همه مسائل را از عینکهای امریکایی ببیند، تصور و اندیشه امریکایی داشته باشد، تفکر و ادیال غرب را در ذهن بپروراند، به ارگ کابل مسلط نماید و در سالهای آینده نیز بعض افغانها را فریب داده و اهداف اشغال را باز هم، اکثرا به وسیله، افغانماهای غربگرا به دست آرد.

بخاطر به دست آوردن همین هدف امرکایها به داکتر اشرف غنی احمدزی سرمایه گذاری کردند، وی را بیشتر جلوه دادند، کمپاین های مخفی قوی را برای داکتر اشرف غنی به راه انداختند، پول زیادی را از طریق سی آی ای در اختیار اشرف غنی قرار دادند، بعضی اشخاص راکه در افغانستان مطرح هستند توسط پرداخت پول به اشرف غنی مایل نمودند، یکجای شدن دوستم را که روی محاسبه چند ساله نهادهای غربی در رده اول ناقضین حقوق بشر، قتل وغارت قراردارد، نادیده گرفتند و در تبلیغات غربی اصلا به این نکته اشاره، نه شد، گویا مسئله حقوق بشر وجنایات جنگی را به نفع اشرف غنی به تسامح گرفتند.

بعض غرب گراها و یا مفسدید درجه یک را که من حیث مهرهای امریکا در افغانستان شناخته میشدند تشویق به حمایت اشرف غنی کردند، که عبارتنداز انوارالحق احدی، زلمی خلیلزاد، علی احمد جلالی، حنیف اتمر، سید منصور نادری، حاجی دین محمد، ظاهر قدیر وسایرین.

کمپاینهای اشرف غنی را بیشتر جلوه دادند، راپورهای میان تهی را از آن به نشر رساندند، موقع بیشتر برای سخنرانی های اشرف غنی مساعد ساخت شد و مشاورین بسیار قوی خارجی را در امورکمپاین های انتخاباتی در اختیار اشرف غنی قرار دادند، که معلوم میشود پله ترازوی اشرف غنی نسبت به سایرین گرنگی میکند و به باور غالب اشرف غنی را برنده انتخابات چند روز بعد اعلام خواهد داشتند.

اشرف غنی از چند زاویه نزدیکی بیشتر به اهداف امریکایی دارد:

ـ تحصلات اشرف غنی دریکی از پوهنتونهای امریکایی در بیروت به اتمام رسیده، پوهنتون امریکایی در بیروت از جمله پوهنتونهای است که بخاطر امریکایی ساختن اذهان، در کشورهای مختلف اسلامی بنیاد گذاشته شده وفعالیت دارند.

ـ اشرف غنی بیشتر عمر کاری خود را در امریکا به سر بورده و بخاطر منافع امریکایی ارج خاص قایل است.

ـ اشرف غنی یک فرد کامل سیکولر است، پیوند مذهبی بنام دارد، پس به سهولت میتواند هر امر امریکا را بدون اینکه در باورهای خود، با آن مشکلی را احساس کند قبول نماید.

ـ خانم اشرف غنی یک عیسوی لبنانی و دوست داشتنی کلچر غرب به گونه افراطی است، پس امریکا میتواند از حریم شخصی اشرف غنی نیز دست رسی به معلومات دقیق داشته باشد، در مورد حقوق زنان و تعریف جایگاه زنان درمسائل اجتماعی نیز به گذشت زمان دست اوردهای قابل ملاحظهء را کسب خواهد نمود.

ـ اشرف غنی روی تفکر خود میتواند که افغانستان را از مذهبی بودن فعلی، که جلو منافع امریکا را میگیرد در فاصله قابل توجه قرار دهد، وبدین وسیله زمینه اتوماتیک برای اشغال دایمی افغانستان و به انرژی افغانماها مساعد میگردد که طبعا زمانگیر خواهد بود ولی نتیجه به مراتب بیشتر از فعالیتهای نظامی دارد.

پس از وضعیت کنونی به وضاحت میرسد که برنده این انتخابات جعلی اشرف غنی خواهد بود، درصورت مزاحمت کاندیدهای دیگر، بعد از برگزاری انتخابات، امریکا توسط سفارت خود، به وسیله تبلیغات رسانه های غربی و نیز اگر لازم دیده شد از طریق مداخله جنرالهای امریکا، دست درازی مستقیم خواهد نمود ومتمردین را به تهدید و گوشتاویهای عقب پرده، ساکت خواهد کرد.

نوی پسرلی دنوو زېړو سره

دهېواد په زياترو برخو کې چې دژمي موسم سخت سوړ او غرونه په واورو پوښل شوي وي طبعاً پکې ددښمن پر ضد عملیات راکمېږي او چې ژمی په وتو او ځمکې ته دښکلا ښکونکي دقدرت دنوي پسرلی ښکلې هواګانې په پیلېدو شي نو ددین دسربلندۍ، دخاورې دازادۍ او دخپلې ملي او مذهبي نوامیسو نه ددفاع په خاطر ددښمن پر ضد دطالبانو دجهادي عملیاتو نوی مبارک پسرلی هم ورسره پیل شي؛ دلوړو عزایمو، پخو ارادو، عالي حوصلو سره یوځای تازه دمي طالبان دنویو جزباتو، نویو پروګرامونو او نویو تاکتیکونو له مخې په نوي نوم ددښمن پر ضد پسرلني عملیات پیل کړي او بیا نړۍ وه وینې چې هر ځل په نوي نوم پیل شوي پسرلني عملیات دتېر په پرتله ډېر قوي، دښمن ته زیات زیان اړونکي او حیرانونکي وي.

خو دا ځل دخوښۍ ځای دادی چې دا چې دژمي ساړه چې لا ندي ختم شوي، دپسرلي تود وښه لابیخي نده محسوسه شوې او اسلامي امارت لا ددښمن پر ضد په نوي نوم پسرلني عملیات ندي اعلان کړي چې په عمل کې مجاهدینو دخپلو کامیابو جهادي عملیاتو پسرلی راوست او لا دپسرلي خوږې وړمې ندي خپرې شوي چې دخپلو پاکو قربانیو په پاکو وړمو دهېواد ټوله فضا معطره او داسلام شجره یې په خپلو سپېڅلو وینو خړوب کړه.

هو! نړۍ رښتیا هم کوته په غاښ ده؛ په اطرافو کې خو هسې هم طالبان برلاسي دي نو ځکه پردښمن ستر ستر عملیات هم حیرانونکي نه وي خو دا چې پلازمینه کابل نسبتاً ارامه ګڼل کېږي او په پرله پسې توګه پکې پردښمن دطالبانو دحملو زیاته ویره نه وي په کابو یوې اوونۍ کې دکابل

ښار په زړه کې دانتخاباتو دکمپاین په یو مرکز بیا دبهرنیانو په هستوګنځي سرینا نومې پنج ستاره هوټل ورپسې پرون دبهرنیانو په میلمستون چې په عین حال کې کلیسا هم وه او نن دتش په نامه ازادو انتخاباتو په مرکز ستر او کامیاب ډله ایز فدائي عملیات چې دښمن ته یې درانده ځاني او مالي تاوانونه وروړول نړۍ یې سخته حیرانه ، دعاصبو لویدیځوالو هېوادونو دغرور ټولې مانۍ یې ولړزولې او داشغالګرو ځان غولونکو ددې دعوو دروغ یې ټولې نړۍ ته ښکاره کړل چې ګینې ددوئ په لاس روزل شوي غلام او لاسپوڅي امنیتي ځواکونه دطالبانو په مقابل کې دجنګېدلو او دلاسپوڅې اداړې نه ددفاع توان لري.

دې کامیابو عملیاتو دافغانستان مجاهد باتور ولس او ټول مسلمان ملت ته له ځانه سره ډېر لوی زیرې لرل؛ دمجاهدینو دلویو فتوحاتو او غاصبو ځواکونو او دهغوئ دغلامانو دشرمیدونکې ماتې زیرې.

موږ دا نیک فال او دقیاس کن زګلستان من بهار مرا مصداق یې ګڼو ؛ دا عملیات هغه څو ځاځکي دي چې له ځان سره دځان پسې درحمت دلوی باران زیرې لري .

دافغان مجاهد ولس او دټولې نړۍ دمسلمان ملت لپاره درحمتونو او خوښیو نه ډک دا باران به زمونږ له هر دښمن لپاره هغه خونړۍ سیلاب رامنځته کړي چې به یې ټول شوم پلانونه ، لوړ لګښتونه ، او اوږده امیدونه لاهو او دنابودۍ سترو ګړنګونو ته وروه غورځوي.

نو دښمن باید پدې پوهه شي چې په ټوله کې ټول مسلمانان او بیا په ځانګړې توګه ددې خاورې باتور شازلمیان دخپل دین ، ملت ، ملي اقدارو او نوامیسو نه ددفاع او دعاصبو طاقتونو دقبضې نه دازادۍ لپاره دپیل شوي جنګ نه هیڅکله هم ستړي کېدونکي او په شا کېدونکي ندي؛ ښه به دا وي چې ټول اشغالګر په خپلو ارادو یو ځل بیا غور وکړي؛ دامنیتي ټرون او نورو پلمو دلته دپاتې کېدو خوبونه له خپلو فکرونو وباسي او دلازیاتو بې ګټو مالي لګښتونو او دخپلو نازولو بچو دضیاع لړۍ ودروي او له دې خاورې چې څومره ژر کېدای شي خپل فوځونه وباسي ګیني بیا به لاسونه مرورې خو وخت به ځینې تېر وي .

آیا پوتین دپخواني شوروي په لټه کې دی؟

عبیدتنویر

دکریمه جزیري دټولپوښتنې په نتیجه کې چې نوموړي حساسه سیمه دروسي په ګټه اوالحاق تمامه شوه ، اوس داسې انګیرنې روانې دي چې دپخواني شوروي اتحادنوړې سیمې اوان هیوادونه هم ځان بیرته له روسیې سره یوځای کړي.

دپخواني شوروي دازادوشوو هیوادونو ترمنځ دپولوشخړې ، دنړۍ په اړه دپوتین نوی سیاست ،دجنګ ، اقتصاد اوسیاست په ډګرونوکې دامریکاکمزوری حالت اواروپایي ټولنې ځینې اشتباهات ، دیوشمیرکتونکوپه انددې باعث ګرځیدلي چې روسیه دامریکااوغرب په وړاندې ځان غښتلی کړي اوهغه ستراتیژیکي سیمې چې یووخت دشوروي جزبلل کیدې بیرته یې په خپل قلمروکې راولي.

په دې ورستیو کې دروسیې دلبرال ګوندمشر ولادیمیر ژیرینوفسکی ، دقرباغ دلانجي حل په دې کې نغښتلی وباله چې ارمنستان اوازربایجان هیوادونه دروسیې له خاورې سره ملحق اویوځای شي ، هغه دپخواني شوروي له ټولوازادوشوو هیوادونوڅخه وغوښتل چې درفراندوم په ذریعه دې له کوم زوراوجبر پرته دروسیې غیږې ته وروګرځي ، دژیرینوفسکی په وینادپخواني شوروي اتحادغړوهیوادونو یوله بل سره په سوونه کاله ګډ اومشترک ژوند تیرکړی اواوس هغه وخت بیا راغلی چې یودبل مټې غښتلی اودیوه لوی قوت په ځیرتبارز وکړو.

دپخواني شوروي اتحاد رهبر ،میخائیل ګورباچف هم له روسیې سره دکریمه دیوځای کیدوپه غبرګون کې ویلي و چې دایوپرځای کار وشواویوه لویه اشتباه پرې جبران وګرځیده په دې معنا چې یووخت کریمه دروسیې دخلکوله ارادې اوخوښې پرته اوکراین ته ډالی شوي وه.

دسعودي عربستان الریاض ورځپاڼې هم په دې ورستیو دکریمه موضوع شاربلی اوترڅنګ یې ویره ښکاره کړي چې دروسیې اوسنی ولسمشرولادمیرپوتین پلان لري چې دپخواني شوروي له ولکې وتلي هیوادونه بیرته سره منسجم کړي اوولسونه یې دیته قانع کړي چې یوځل بیاله روسیې سره یوځای شي ، خودورځپاڼې په قول مسلمان نشیني سیمې به دپوتین دغه پلان ته

چنداني مثبت ځواب ونه وايي ، ځکه هغوی فکرکوي چې دپخواني شوروي په وخت دهغوی اسلامي اودیني ازادي ترپښولاندې شوي وه اوفرهنګي اقداریې له منځه وړل شوي وو.

دامریکادضعف نکته ؟

شک نشته چې امریکادعراق اوافغانستان په جنګ کې خپل جنګي اواقتصادي مورال بایلود ، دشمالي کوریاداتمي ازموینوپه موضوع کې امریکاله شکست سره مخ شوه ، دایران اوسوریې په مسایلواوشخړوکې دروسانودمستقیمي مداخلي په ترڅ کې دامریکاسیاستونه اوتهدیدونه بې نتیجي وختل ؛ همداوديته ورته دنوروجوهاتو اونړیوالو تحولاتوله املهروسیي وفهمولهچې نورامریکادسیاست اوامپراطوری چلولوله بامه په غورځیدودی ، اوهمدغه ښه فرصت دی چې روسیه بیرته دخان دپیاوړي کیدلوهڅې پیل کړي نوړومبی ګام یې داوکراین دکریمه جزیرې په خپلولووکړ.

واشنګټن پوست هم په په یوې ورستی سرمقاله کې همدې موضوع ته اشاره کړي چې دروسیې سره دکریمه یوځای کیدل دغرب اوامریکالپاره لویه فاجعه اودخطرزنګ دی، سرچینه زیاتوي چې دامریکااوناټوهیبت اورعب هغه مهال نور دروسیي په وړاندې بې ارزښته وبلل شو چې اوباماواوناټو دیولړ اقتصادي اوسیاسي تحریمونودلګولو په ګوابنو سربیره روسیه دکریمه په موضوع کې له خپل دریځ اړولوڅخه په شا نکړای شوه.

که څه هم دروسیې تحلیل ګران په انددې چې روسیه لاهم دنړیوال توب لپاره یولړ اقتصادي اوسیاسي پرمختیاوو ته اړتیالري اولاهم هغه حداودرجي ته نده رسیدلي چې دامریکااوچین په څیرخپل سیاسي اواقتصادي اهمیت اورول ترلاسه کړي ، خوبیاهم که چیرې روسیه له ځان سره دیوشمیرنوروهیوادونو دالحاق هڅوته دوام ورکړي ،کیدای شي په شرقي اروپااومنځنی اسیاکې هغه دیومهم قوت په توګه ځان وځلوي .

له بل لوري دامریکااوغرب لپاره داندیښني بل مهم تکی دادی چې کیدای شي دچین اوروسیې ترمنځ دیووالي اوپه مسایلوکې دګډ دریځ نوی پراو رامنځته شي ،ځکه دنړۍ اوسیمې په باب دچین اوروسیې سیاستونه لدې وړاندې هم تړاوپره ځایه یوخیل بریښیدلي دي ،ځکه چین اومسکو له یوبل څخه په لنډه موده کې دکوم تهدید او جدي مخالفت احساس نکوي، تردې پورې چې روسیه په چین باندې پرمختللي هوایي اوبحري پوځي تجهیزات پلوري چې دچین خلک یې سخت په ځان راجذب کړي ، له بل اړخه چین اومسکوویره لري چې امریکایان په فضاکې دبالستیکي لیري ویشتونکوتوغندیودفاعي قوت رامنځته نکړي ، همدغه علت دی چې چین اومسکودنورویولړ اقتصادي ، سیاسي اوپوځي مشترکاتوترڅنګ کلک عزم لري چې امریکا په فضاکې له تسلیحاتي مسابقي اوپرمختګ څخه راوګرځوي اوپه وړاندې خنډونه جوړکړي.

(سعادت لاروی)

یوازي په ښارونو کې دمجبورو او مزدورو انتخابات

عام انتخابات چي ددیمو کراسۍ او غربي رواج یو داسي پدیده ده چي نه پکي دانسانانو لیاقت ته کتل کیږي نه یې هم دیانت امانت او سپیڅلتوب ته بلکي دلته یې یوازي شمیر ته ترجیح ور کول کیږي ددوی په اند ظالم مظلوم ،عادل او جابر ، پوه او نا پوه ، عالم او عامي ،پاک او ناپاک ، ووړ او زوړ په رایه ور کولو کي سره یو برابر دي

چي په دې کار سره دپوه ،عالم ،سپیڅلي او مشر ورایو ته دکشرانو بې علمو او ناولیو په نسبت درناوی نه کیږي اوعمدا ددوی لیاقتونه له پامه غورزول کیږي اوددوی په قانون کي دښه اوبد رایه یوه شمیرل کیږي چي دا په خپل ذات کي له عدالت انصاف او پوهې سره یوه جګړه او په وړاندې یې ستره جفا او ناسم چلند بللای شو

په افغانستان کي دروان ۲۰۱۴ کال انتخابات چي دامریکا په خوښه تر سره کیږي او هغه چاته به رایې ور کول کیږي چي دوی ورته معرفي کړي وي چي هغه یا داخلي جنګسالاران او یا هم په بهر کي روزل شوي سګشویان او کفري مزاجه غربي ټوک خواره زموږ دهیواد دنفوسو شمیره چي دا مهال تر ۳۰ میلیونه اوړي یوازي دښاري سیمو دولتي مامورین او یا هم هغه کسان چي دټوپک دمیل په زور وټاکنو ته اړ ایستل کیږي دپور ته شمیرې په تناسب لس فیصده هم نشو بللای نو چي داسي ده څرنګه به دا انتخابات افغان ولس ته دمنلو وړ وي زموږ هیواد وال دا هر څه په خپلو ستر ګو ویني چي ددوی انتخاباتي کمپاینونه دفترونه کاروانونه تر بریدونو لاندي نیول کیږي او هره ورځ یې په لسهاوو پلویان دمرګ کومي ته لویږي یایې کاندیداتوران سره له ساتونکو او پولیسو دمحاهدینو له لوري ژوندي اسیران کیږي خو غربي رسنۍ لا هم په واز کومي دانتخاباتو دپر مختګ ډنډورې ږغوي او په وار وار دا تکراروي چي دا ځل تر پخوا خلک وانتخاباتو ته ډیر لیوال دي کله وایي چي دشپې له دوو بجو لاینونه تر تیب شوي او تر مازیګر پوري خلک درایې کار تونو اخیستلو ته په لاین کي انتظار

باسي او کله هم له دولتي مامورينو سره دعامو خلکو په نوم مرکې تر تيبوي چې وښيي په هيواد کې سم سمکی دی او دوی ته کوم خطر نشته دوی داهم وايي چې موږ په ۳۳ ولایاتو کې ۶۷۰۰ دانتخاباتومرکزونه خلاص کړي که داشميره پر ۳۳ تقسيم شي نو په هر ولايت کې څه بالا ۲۰۰ مراکز ددوی له لوري پرانستل شوي چې داهيڅا ته دمنلو ندي ځکه خلک په خپلو ستر ګو ګوري چې په هر ولايت کې دګوتو په شمير مراکز تعين شوي

دوی له داڅو ورځنيو فدايي بريدونو دومره و ويدل چې نه يې بهرني څارونکي پاتې شول او نه دوی په هغه اندازه چې په کار ده ه ودفترونو ته حاضريږي ددې لپاره چې له دې کارنده بريدونو خوندي پاتې شوي وي دروانې ميا شتې له پيل نه يې دلويو لارو مسافروته مخه کړې او هغه چې پګړۍ يې پر سر وي يايي ږيره وي يايې څيره وطالب ته ورته وي له سپرلي موټرونو شوه کوي او اذيت کوي يې ياهم ددوی دجاسوسي شبکې له لوري په مرموز ډول په شهادت رسول کيږي او يايې وزندانونو ته اچوي چې ددوی دغه ظالمانه عمل نوره هم داولس غوصه را پار ولې او له دوی نه بيزاري اعلانوي ۰

سرطان يوه ډيره خطرناکه ناروغي ده چې په عمومي توګه په ميرمنو يا ښځو کې ډير تلفات لري ،د سينې سرطان په نارينو کې هم پيدا کيږي خو په ډيره کمه اندازه ،مونږ په دې بحث يا څيړنه کې د ميرمنو په اړه خبرې کو ،په دې برخه کې لومړی بايد دا اتومي په اړه وغږيږو ،په ميرمنو کې سينه د شيدو له غدواتو څخه جوړه ده ،هغه ټنات چې د سينې په سر کې ختميږي يا پای ته رسيږي د سينې شاته هغه عضلات دي چې د شاله هډوکو سره اړيکې يا ارتباط لري. ځنګه يو سرطان وده کوي ،د دانشمندانو په وينا ، يوه نورماله حجره د بهرنيو عواملو له املې په چټکې سره وده کوي ،چې يوه حجره په ډيرو حجرو بدليږي او يوه غده جوړوي ،وروسته د دې غړې جدار شليږي يا المنځه ځي ،او سرطاني حجرې په وينه کې ننوځي ،له دې املې چې وينه د انسان د بدن په ټولو برخو کې جريان لري ،د بدن په نورو غړو يعني د بدن په نورو ارګانونو کې نورې غدې جوړيږي ،سرطاني حجرې هم د شيدو په غدواتو او هم د سينې په ټنات کې وده کوي. په دې وروستيو کې څيړونکو ،د دې ان ای DNA په اړه په بشپړه توګه يوه څيړنه ترسره کړه ،لکه څنګه يې چې د يوه ناروغ يا مريض په بدن کې يوه نورماله حجره او يوه سرطاني حجره ولیده ،دوي په دې پوه شول چې تقريبا په سرطاني ډولونو کې ټول سلولونه د دې فکټورونو ۹ ډوله جوړوي ،او همد څيړنه ښيي چې دغه فکټورونه د هر کس په دې ان ی DNA کې شتون لري ،،و د بهرنيو عواملو لکه ،د راډيو اکټيف شعاوي ،د هوا کګړ تيا ،خراب خوراکي تو کې او نورو نورو له املې دغه فکټورونه فعاليږي. په امريکا کې د څيړنو د مې مؤسسې پخوانی مدير داکټر فرانسيس کالينز ،د سرطان په څيړنو کې دغه مطالعه يو مهم بدلون په ګوته کوي ،او دري ډوله فکټورونه يې د تومور د ځپنې په موخه د جينونو مسؤل ياد کړي دي او څلور ډوله جينونه د سرطان په وده کې مهم رول لري. عالمان په دې اند دي ،په سرطان د خته کيدو د څلور فکټورونو هغه دري مسؤل ځپونکي فکټورونه چې د سرطان لامل کيږي. کولای شو له هغې څخه د سرطان د ناروغې درمل جوړ کړو ،څو د سرطان د لمنځه تلو لامل شي.

د مخنيوي لارې چارې

د يادونې وړ ده ، هره ښځه (ميرمن) بايد د ځان وينځلو يو حمام په وخت کې د خپل لاس په وسيله د خپلې سينې شاوخوا سيمې لمس کړي ، که کومه کلوڼګي يا (غوټه) لمس يا احساس کړي نو له ځنډ پرته دې ژر تر ژره ډاکټر ته مراجعه و کړي .او که له دغې ناروغې څخه ژر درملنه وشي علاج يې شونی دی.

دغه راز د فرانسې په استر سبورګ ښار کې يوه پروفيسور د دې ناروغې په اړه يو کنفرانس جوړ کړ ،چې د دې پروفيسور د ويناوو لمخې ،غوښه او بوره د سرطان په ناروغې داخته کيدو غذا ده ،او لازمه ده چې له دې دوه خوړو څخه لږه استفاده وشي.

دجهاد فقهي مسائل

جهاد کې له کفار وڅخه داستعانت یا مرستې غوښتلو شرعي حیثیت

مفتی ابومحمد (حقانی)

اتمه برخه

دعربي لغت کتابونو(لسان العرب او الجوهري)کې يې داستعانت داسې معنی کړې چې :الاستعانة د استعان مصدر دی ،اودا طلب العون یاد مرستې غوښتلوته وایې ،چې اصطلاحي معنی هم دلغوي هغې غوندې ده او تقریبا سره یوشان دي .

داستعانت ډولونه

استعانت په دوه ډوله دی ، یو له الله تعالی څخه استعانت غوښتل او بل دده څخه ماسوی له بل چاڅخه کمک غوښتل ؛چې له الله تعالی څخه مرسته غوښتل په ټولو شیانو کې مقصود او مطلوب وي ،چې هغه مادي وي، لکه قضاءالحاجات یا لکه توسع في الرزق ،اوکه معنوي وي، لکه (تفریج الکروب) چې دابه ددې آیتونو مصداق شي چې : { إِيَّاكَ نَعْبُدُ وَإِيَّاكَ نَسْتَعِينُ } (سورة الفاتحة / ٥) . وقوله تَعَالَى : { قَالَ مُوسَى لِقَوْمِهِ اسْتَعِينُوا بِاللَّهِ وَاصْبِرُوا } (سورة الأعراف / ١٢٨) .او استعانت دطاعت په

شان الله تعالی جل جلاله ته د دعا په توجه کولوهم کیږي ،لکه چې الله جل جلاله فرمایي : {وَاسْتَعِينُوا بِالصَّبْرِ وَالصَّلَاةِ} (سورة البقرة / ۴۵ .)

استعانت په غیر له الله تعالی څخه کله له انسانانو او کله له پیریانو څخه کیږي ،له پیریانوڅخه مرسته غوښتل ناروا او حتی کله کفر او شرک ته هم ورسیږي، لکه پدې کریمه آیت کې چې راغلي : {وَأَنَّهُ كَانَ رِجَالٌ مِنَ الْإِنْسِ يَعُوذُونَ بِرِجَالٍ مِنَ الْجِنِّ فَزَادُوهُمْ رَهَقًا} (سورة الجن / ٦ .)

مګر فقهاوو په اتفاق سره دانسانانوڅخه مرسته غوښتل په هغو ځایونو کې روا بللي، چې پدې کې کوم ډول خیر مقدر وي، لکه پدې کریمه آیت کې چې راغلي : {وَتَعَاوَنُوا عَلَى الْبِرِّ وَالتَّقْوَى وَلَا تَعَاوَنُوا عَلَى الْإِثْمِ وَالْعُدْوَانِ} ((سورة المائدة / ۲ .)).

خودانسانانو څخه مرسته یا استعانت غوښتل ، کله ناکله دوجوب درجې ته هغه وخت ورسیږي ،چې بیړنی یا داضطرار حالت وي او ددې د مرستې له غوښتلو پرته دهلاکت شونتیا وي، لکه دې مبارک آیت کې چې راغلي : {وَلَا تُلْقُوا بِأَيْدِيكُمْ إِلَى التَّهْلُكَةِ} .

جهاد کې له کافرو څخه مرسته غوښتل

په (فتح القدیر ۴ / ۳۲۷ ، کشاف القناع ۳/ ۴۸ ، او حاشیه ابن عابدین ۳/ ۲۳۵) کې داسې راغلي ،چې :احناف رح او حنابله رح وایي ،چې جنګ کې داړ تیا او ضرورت پر وخت له نا مسلمانو وګړو څخه استمداد یا مرسته غوښتل روادي ،شوافع رح پدې استعانت غوښتلو کې څه شرطونه وایي ، لکه داچې دمسلمانانو مشر ددې مرسته غوښتل شویو کفارو دخیانت څخه مطمین وي ، همداسې ورته ددوئ حسن رایه دمسلمانانو په هکله معلومه وي، اوبل داچې ددوئ نه دمسلمانانوپوځي طاقت دومره ډیر وي، چې که چیرته دا مستعان بهم کفار دښمن ته ورواوړي ،نوچې جنګي لیکې مسلمانان پخپله غښتلي کړي او مقاومت جاري وساتي، او مالکیان رح هم له نا مسلمانووګړوڅخه مرسته روا بولي ،خو دده خوښه پکې شرط ګرځوي .

داستعانت دجوازدلیل :

علامه شامي رح په (حاشیة ردالمحتار) کې لیکلي: چې رسول الله صلی الله علیه وسلم دبدر په غزا کې یوه مشرک چې غوښتل یې ترڅو برخه ورسره په جګړه کې واخلي

بيرته وشاړه، خو بيا په (خيبر غزوه) کې يې (دبني قنقاع) له يوه يهودي څخه مرسته غوښتي اوهمداسې يې د(حنين په غزا) کې د(صفوان بن اميه) چې مشرک و،هم مرسته اخستي ده ،نو معلوميږي چې له کافرو څخه استمداد اخستل په جهاد کې روا دي او کومه قبح نلري، لکه دعلامه ابن عابدين شامي دحاشيي (ردالمحتار) پدې عبارت کې هغه احاديث رانقل شوي چې دا رنګه پروخت جهاد کې له کافرو څخه مرسته اخستل ثابيږي ،او صراحت پرې داسې شوی : ..... ثُمَّ قَالَ وَقَالَ الشَّافِعِيُّ رَدَّهُ عليه الصلاة والسلام الْمُشْرِكَ وَالْمُشْرِكَيْنِ كَانَ فِي غَزْوَةِ بَدْرٍ ثُمَّ {إِنَّهُ عَلَيه الصلاة والسلام اسْتَعَانَ فِي غَزْوَةِ خَيْبَرَ بِيَهُودِ مِنْ بَنِي قَيْنُقَاعَ , وَفِي غَزْوَةِ حُنَيْنٍ بِصَفْوَانَ بْنِ أُمَيَّةَ , وَهُوَ مُشْرِكٌ} فَالرَّدَّانِ كَانَ لِأَجْلِ أَنَّهُ كَانَ مُخَيَّرًا بَيْنَ الِاسْتِعَانَةِ وَعَدَمِهَا فَلَا مُخَالَفَةَ بَيْنَ الْحَدِيثَيْنِ وَإِنْ كَانَ لِأَجْلِ أَنَّهُ مُشْرِكٌ فَقَدْ نَسَخَهُ مَا بَعْدَهُ..... (حاشية ردالمحتار /ج ۱۶/ص۵)

له جګړې پرته له کافرو څخه مرسته غوښتل

په (المغني ،حاشية ابن عابدين شامي او قيلوبي وعميره)فقهي کتابونو کې داسې راغلې دي ،چې في الجمله يا په عمومي صورت کې له قرباتواو ديني مواضعو څخه په غير له نامسلمانوو ګړو څخه چې هغه اهل کتاب وي که غير اهل کتاب وي ، مرسته غوښتل ترې روادي ،دبيلګې په ډول دعلم حساب ،خط وکتابت ،شعر وشاعري ،تخنيکي او ساينسي امورات ،ساختماني چارو کې ، لکه پلونه ،جوماتونه او هستوګنځي جوړول او نور کې ترې کمک غوښتل کوم باک نلري البته په قرباتو کې ترې مرسته غوښتل ناروادي لکه اذان ،تعليم القران اودحج په شان نور داسې چې شرعاً يې پکې مزاولت ممنوع وي لکه دمسلمانانو اويا ددوئ داولايت او پرې واکمني اوداسې نور.....

خو کله نا کله له اهل کتابو څخه مرسته دذبايحو او بنکارپه شان ځينو مواردو کې مباح وي او دنورو نامسلمانو وګړو څخه لکه مشرکين ،مجوسيانو غوندې له نوروڅخه جواز نلري.

(المغني ۱ / ۸۳، ۵ / ۵۰۶، ۵۰۹، ۶ / ۵۹۱ ط الرياض، وابن عابدين ۲ / ۳۸، ۴ / ۴۰۰، ۵ / ۱۸۹، وقليوبي وعميرة ۲ / ۱۵۶، ۳۳۷، ۳ / ۷۴، ۱۷۸.)

دکفاروپرخلاف له یاغیانوڅخه مرسته غوښتل

دکفاروپر خلاف دمسلمانویاغیانو یا بغاتوڅخه مرسته غوښتل ،داحنافو رح ،شوافعورح ،مالکیانو رح او حنابلورح په څلور ګونو مذهبونو کې جوازلري او دې کې کوم ډول حرج نشته ،یعنې که چیرته مسلمانان ضعیف وو،او دمحاربو کفارو سره یې دجګړې ځواک نه درلود، نوهغو باغیانوڅخه هم مرسته غوښتی شي، چې ددې اسلامي حکومت احکامات اوفرامین نه مني او پر خلاف یې باندواو غرونو کې مورچلونه نیولي وي، او ددې اسلامي دولت په قلمبرو کې سرکشي کوي چې حوالې یې دادي :

.(فتح القدير ٤ / ٤١٦ ، والتاج والإكليل ٦ / ٢٧٨ ، وبلغة السالک لأقرب المسالک ٢ / ٤١٥ ط الحلبي ، والمغني ١٠ / ٥٧ ط المنار ، ومغني المحتاج ٤ / ١٢٨ ط الحلبي ، وبدائع الصنائع ٧ / ١٤١ ، والخرشي ٥ / ٣٠٢ ط الشرقية .).

خوکه چیرته باغیان ځواکمن وو، او اسلامي حکومت یې له مهارولو او ایل کولوڅخه عاجزو،نو بیا دې صورت کې دا اسلامي حکومت دکفارو څخه ددې یاغیانو دځپلو لپاره کمک غوښتی شي که نه ؟هغه مسئله چې احناف پرې له نورو مذاهبو سره اختلاف نظر لري، یعنې له احنافو پرته یې شوافع رح ،مالیکان رح او حنابله رح ناروا بولي او احناف یې روا بولي!

چې دمذاهبو فقهي کتابونو داسې تفصیل ددې مسئلې لیکلی دی :

مالکیان رح ،شافعیان رح او حنبلیان رح فرمایي :

چې دمسلمانو باغیانو خلاف له کفاروڅخه مرسته غوښتل حرامه ده، داځکه چې هدف ددې باغیانو وژنه نه ده ،بلکې ددوئ مخه نیول او دفع کول دي، او کفار خوددوئ وژنه غواړي ،خوکه بیاهم ددې اطمینان موجودو،چې له کفارو څخه مرسته به صرف ددې لپاره وي، چې ددې باغیانو کنترول به وکړای شي، نو کمک غوښتل ترې روادي ،خو احناف رح او جمهورعلماء په اتفاق سره پدې باوري دي ،چې کله دمشرکانو واکمني وه، نوبیاله کفاروڅخه دباغیانو پرخلاف مرسته یا استعانت غوښتل حلال ندي اوداخوظاهره خبره ده، مګر که چیرته داهل عدل حکومت و،نوبیاکه اړتیاهم نه وي ، داهل ذمیانو او دباغیانوپه یوه ډله استعانت یا مرسته غوښتل روادي ،داځکه چې اهل عدل چې کومه مقاتله یا جګړه کوي ،نو ددین اسلام داعزاز لپاره یې کوي اواستعانت له یاغیانوڅخه داسې دی لکه

پر دوئ چې وي! .حوالي يې دادي : (حاشية ابن عابدين ٣ / ٤١٦ ، وحاشية الدسوقي ٤ / ٢٩٩ ، والتاج والإكليل ٦ / ٢٧٨ ، والمهذب ٢ / ٢٢٠ ، ونهاية المحتاج ٧ / ٣٨٧ ، والمغني ٨ / ١١١ ، وكشاف القناع ٦ / ١٦٤)

په عباداتو کې دبل چاڅخه مرسته غوښتل

داخبره څرګنده ده، چې دعبادت په ترسره کولو کې، له بل چاڅخه مرسته غوښتل روا دي، اودې کې کوم حرج نشته، خو اوس داخبره چې آيا دا مرسته کول، دهغه چاسره دعباداتوپه ادا کولو کې چې ددې استمداد او استعانت پر ته خپل عبادات نشي ترسره کولای (قدرت ملزمه) دی که څنګه ؟دلته بين المذاهب دا خبره اختلافي ده ،ځيني احناف علماء چې شوافع او حنابله علماء هم ورسره موافق دي ،وايي چې کله ديوه معذور انسان سره څوک مرسته وکړي، نو دې صورت کې دا سې معتبر ګرځول کيږي چې دا انسان په عبادت قادر دی او دضعف او احتياج له عذره دا انسان وتلی دی ،لکه اودس اويا قيام په لمانځه کې ،او ځيني نور احناف علماء رح ، چې دامام مالک رح دمذهب دعلماووپه نظر هم همدا مفهوم استفاده کيږي، دبل چا په معاونت او کمک څوک په عبادت قادرنشي معتبر بلل کيدای ، داڅکه چې معونت دلته يو نفلي غوندې حساييدای شي !

چې دزيات معلومات لپاره دا لاندې کتابونه او حوالې بسنه کوي :

(فتح القدير ١ / ٨٥ ط دار صادر ، والتاج والإكليل على الحطاب ٢ / ٣ ط ليبيا ، ومغني المحتاج ١ / ٦١ ط الحلبي ، والمغني مع الشرح الكبير ١ / ١٣١ ط دار الكتاب العربي .)

دجهاد لپاره د کافرو اجاره کول

دامام شافعي رح دمسلک علماوو،پدې صراحت کړی، چې جهاد کې د کافر په اجاره نيول او کرايه کول روادي، اما داحنافو کتابونو کې د کافر داجاره کولو دمشروعيت کوم صراحت ما پخپله پيدا نکړای شو،صرف دومره مې پکې ومونډل ،چې د کافرو څخه دضرورت پر وخت مرسته غوښتل روادي، او بيا به ورته څه بدل معاوضه (رضيخه)ورکړای شي ، خو داچې اجاره يې کړي ،داحنافو صراحت نه ترستر کيږي، مګر شوافع رح

يې جايز بولې، حتى شوافع رح وايې، چې د (ذمي، مستامن، معاهد) غوندې (حربي كافر) هم جهاد كې په اجاره نيول كيداى شي، خو دوئ هم ورته داسې شرط ږدي، چې دا كافر به هر څوك نشي اجاره كولاى، مګر صرف دمسلمانانود امام لخوا به اجاره كيداى شي، دغنيمت څخه نه، بلكې دخمس الخمس څخه به ورته بدل الاجاره ورکول كيږي، لكه په الموسوعة الفقهية كې داسې عبارت راغلى ((الشّافعيّة بأنّه يصحّ استئجار ذمّيّ، ومُستأمَن، ومُعاهَد، بل حربيّ للجهاد من قبل الإمام ..... وليس لغير الإمام ذلك؛ لاحتياج الجهاد إلى مزيد من نظر واجتهاد.))

تر ډيرې پلټنې وروسته مې دشوافعورح په كتابونو كې دا مسئله پيدا كړه، چې هغوئ پخپله ليكلي وو، چې جهاد كې د كافر كرايه يا اجاره كول روادي، خو دا صرف دشوافعو په مسلك كې دجواز حكم لري، دامام ابوحنيفه رح او امام مالك رح په مذهبونو كې جهاد لپاره د كافر اجاره يا كرايه كولو كې خلاف ثابت دى، نودې وضاحت سره كه څه هم داحنافو كتابونو كې مې په دومره صراحت سره دا مسئله ونه موندله، له نيكه مرغه پخپله شوافعورح منلې وه، چې دامام ابوحنيفه او امام مالك رح څخه دې مسئله كې خلاف راغلى، لكه د شوافعوعلماووكې د (قيلوبي او عميره) په مشهوروحاشيو كې چې داسې صراحت شوى دى : ويَصِحُّ استِئجارُ ذمّيٍّ) لجهاد (للإمام قيل ولغيره) من الآحاد، والأصحّ المنعُ لأنّه من المصالح العامّة لا يتولّاها الآحادُ ويُغتفرُ جهالةُ العمرِ لأنّ المقصودَ القتالُ على ما يُتّفقُ

الشّرحُ

قولُه: (ويَصِحُّ استِئجارُ ذمّيٍّ) أي كافرٍ مُطلقًا خلافًا للإمام مالك وأبي حنيفةَ وتَصِحُّ بلفظ المُصالحة وتَنفسخُ بإسلامه وبالصّلح على ترك القتال قالَه شيخُنا، (حاشيتا قيلوبي وعميرة/ج١٥/ص٢٧٧)

دشوافعورح له نظره دمسلمانانو دامام لخوابه يې اجاره کول صحت لري ،ځکه چې امام يوخو تام واک لري، بل جهادي مسايل يوه نوع دقيق نظر او اجتهاد ته اړتيا لري او ددې صلاحيت له امام المسلمين سره وي .

البته(دحنفي مذهب معتمدې فتاوى الشاميه) داسې عبارتونه ليکلې: چې ترې دمسلمان اجير يا جهاد ته داجاره کړای شوي مسلمان دغنيمت سهم معلوميږي ،ددې عبارت نه چې وروسته به يې رانقل کړو، داسې ښکاري چې کله کوم څوک جهاد ته په اجاره شي او جهاد ته لاړشي، نو داجاري عوض (رضيخه)او له غنيمت څخه خپله برخه يا سهم دواړه نشي اخستلای ،بلکې چې کله جنګ کې ګډون وکړي ، له غنيمت څخه به ورته سهم ورکول کيږي او رضيخه نه شي ورکول کيدای ،داهل ذمه ،ماشوم ،مريي ،ښځې ،ليوني ،معتوه او مکاتب پرخلاف ،چې که دوئ په جنګ عملاً برخه هم واخلي او پکې شريک شي ،بيا به هم دغنيمت سهم نشي اخستلای بلکې (رضيخه)به ورکول کيږي ((. [تَنْبِيهٌ] اقْتَصَرَ الْمُصَنِّفُ عَلَى الْمَذْكُورِينَ ; لأَنَّ الأَجِيرَ لا يُسْهَمُ لَهُ وَلا يُرْضَخُ لِعَدَمِ اجْتِمَاعِ الأَجْرِ وَالنَّصِيبِ مِنَ الْغَنِيمَةِ إِلا إِذَا قَاتَلَ فَإِنَّهُ يُسْهَمُ لَهُ بَحْرٌ أَيْ بِخِلافِ الْمَذْكُورِينَ , فَإِنَّهُمْ إِذَا قَاتَلُوا يُرْضَخُ وَلا يُسْهَمُ لَهُمْ .....))(ردالمحتار على الدرالمختار /ج ۱۶/ص ۵).

دې فوق الذکر فتاوی حاشيه کې چې څومره معلوميږي، دمسلمان اجير حکم ترې څرګند دی ، نه دکافر اجير ! ځکه دکافر اجير لپاره په غنيمت کې برخه نشته ،بلکې دهغه لپاره صرف رضيخه ده (يعنې له سهم څخه کمه برخه)اودلته په غنيمت کې دده دسهم خبره شوي، نو دلته به مسلمان اجير ترې مراد وي .

.حوالې دادې :

(نهاية المحتاج ٨ / ٦٢ ، ٦٣ ومابعدها(.(١)ابن عابدين ٣ / ٢٣٥ ، والمبسوط ١٠ / ٣٣ ، وفتح القدير ٥ / ٢٤٢ ، ٢٤٣ والحطاب ٣ / ٣٥٢ ، والمدونة ٣ / ٤٠ ، ومغني المحتاج ٤ / ٢٢١ ، وروضة الطالبين ١٠ / ٢٣٩ ، والمغني ٨ / ٤١٤ ، وكشاف القناع ٣ / ٤٨ .)

د څرخ دولسونو څه ګناه وه؟

لیکوال: شهید علیزی

د امریکایانو له راتګ سره سم د هغو د جنایاتو لړۍ یو تر بلې ورځې لا پسې پراخیږي. هره ورځ مونږ د خپلو وطنوالو د مړینې او د ځوروني خبرونه اورو. کله هم داسې سحر په مونږ نه دی راغلی چې د خوشحالۍ خبر مو اورېدلی وي، بلکه هره ورځ د وژنو ، چاپو او د قتل عام خبرونه مو تر غوږو کیږي. کله په کنړ کې د وحشي امریکایانو عامه وژنه وي ،کله د پروان د سیاګرد پېښه مینځته راځي ،کله د لوګر د سجاوند د سیمې د قتل عام خبرونه اورو. داسې ورځ او داسې ځای نشته چې د وحشي دښمن وحشت او ظلم یې نه وي لیدلی. دا ټول هغه ناورینونه او جنایتونه دي چې هره ورځ یې امریکایان او د هغوی مزدوره اداره یې زمونږ په بې وسه ، مظلوم او مجاهد پروره خلکو باندې پیل کړې او لا پسې دوام لري. د دغه جنایت یوه کړۍ دا اوس د لوګر ولایت د څرخ د ولسوالی په مظلوم او زړور ولس په مسلسله توګه روانه ده او دا لس ورځې کیږي چې دوام لري او ټول نړیوال په دې خبر دي.

دا لس ورځې کیږي چې د مزدورې اداري اردو لپاره د دې چې د جعلي انتخاباتو بکسونه او نور انتخاباتي مواد تر ولسوالی ورسوي. او دې ناکامې او شرمېدلې پروسې ته د ختې پوزه جوړه کړي. نو د وحشت څخه ډک عملیات یې شروع کړل. او د خپل ظلم ، وحشت او عام وژنې پروسې ته یې لا پسې شدت ورکړ. او په دې لسو ورځو کې یې تقریباً ۴۲ عام وګړي شهیدان او زخمیان کړل. او ډېرې کورنۍ یې د غم په تغر کینولې.

د یادې ولسوالی یو قومي مشر سید الماس د دوشنبې په ورځ (۲۹) کال ۱۴۳۵ چې د حمل (۱۱) کال ۱۳۹۳ سره سمون خوري په رسنیو کې دا ناورین داسې بیان کړ. د تېرو لسو ورځو راهیسې د دې ولسوالی په بیلا بیلو سیمو کې ملي اردو عملیات پیل کړي چې په ترڅ کې یې د ښځو او کوچنیانو او سپینږیرو په ګډون (۴۲) تنو ملکي وګړو ته مرګ ژوبله رسېدلې. په دې عملیاتو کې (۱۱) تنه ملکي وګړي په شهادت رسېدلي او شاوخوا (۳۵) نور ټپیان شوي دي. ملکي وګړو ته مرګ او ژوبله د امنیتي ځواکونو او طالبانو ترمنځ ننښتو کې د افغان ځواکونو په ډزو سره رسېدلې ده. امنیتي ځواکونه د عملیاتو پر مهال احتیاط نه کوي او له همدې امله ملکي وګړو ته مرګ ژوبله رسېږي.

همدارازپه سیمو کې اوسېدونکي وایي دا لس ورځې کېږي چې د کرزي پوړې مربوط ځواکونو عملیات شروع کړي دي او غواړي چې د پل عالم لخوا د څرخ ولسوالی ودانۍ ته د زمکې له لارې ځانونه ورسوي او د انتخاباتو لپاره اړین مواد او تدابیر ونیسي. مګر په دې لسو ورځو کې ایله دوی تر شش قلعه د دو سنګک تر بازاره رارسېدلي دي. چې دا سیمه د څرخ د درې خوله بلل کېږي. سره د دې چې د څرخ ولسوالی یوه کوچنۍ ولسوالی ده. مګر بیا هم دوی ونه شوی کړی چې ځانونه د ولسوالی ودانۍ ته ورسوي او خپلو قعلو بندو ملګرو سره یو ځای شي. ځکه چې د طالبانو لخوا په دوی بریدونه کېږي. او د دوی مخه یې نیولې ده. کله چې په دوی حمله وشي نو په طالبانو یې زور نه رسېږي بلکه مقابل کې په عام میشته ځایونو باندې د هاوان ناتار بریدونه کوي. چې دا لس ورځې کېږي د دوی دا لړۍ روانه ده. د څرخ ولسوالی اکثره سیمې لکه د قلعه نو د شیخ های سفلی سیمه او د قلعه نورا سیمه، چې د مامور ګل محمد ، للی میرو او د معلم پائنده محمد او په ګڼو نورو کورونو مرمۍ لګېدلي دي. چې دری کسان یې زخمیان کړل او مختلفو کورونو کې د خلکو حیوانات مړه کړل او نوره مالی تاوانونه یې رسولي دي. علاوه له دې څخه په همدغه یاده سیمه کې د مولوی محمد شهید په دیني مدرسه او جومات باندې هم بریدونه شوی دي چې د جومات تعمیر او نور وسائل تخریب شوي دي. همدارازد نوښار په سیمه کې د مولوي عبدالواسع په کور او په دې سیمه کې په نورو کورونو هم مرمي لګېدلي دي چې د مولوی عبدالواسع د کورنه (۹) کسان پکې زخمیان شول. همدارازد ښمن د هاوان د برید له امله د څرخ نورې سیمې لکه پنګرام ، قلعه ملا علیم، خواجه سومۍ او نورې ډېرې سیمې تخریب شوی دي خلکو ته هر قسمه مالي او ځاني تاوانونه

رسېدلي دي. خلک په خپلو کورونو کې قلعه بند پاتې دي. د څرخ ښکلي دره يې په دوی سور اور کړې ده. د سه شنبې په مازديګر له سيمې راپور راغی چې مزدورې اداري ګرزبند يز اعلان کړی دی. او خلکو ته يې ويلي دي چې له کورونو څخه به نه راوځئ که نه نو په تاسو به بريدونه وشي. خلک وايي که څوک له خپلو کورونو څخه دباندې وليدل شي نو د خواجه علي نومې غره څخه چې هلته د دښمن يو پوسته ده، د ده شکه او زيو او نورو سپکو او درنو وسلو په واسطه برید ورباندې کيږي. چې تر اوسه پورې داسې ډېرې پېښې منځ ته راغلي دي.

په اصطلاح دا روان عمليات داسې يو جنايت دی چې مزدوره اداره د افغانستان او د اسلام دښمنان امريکايان او د دوی نور ملګري پرې خوشحالوي او د انتخاباتو دا ناکامه پروسې ډرامه ورباندې پر مخ بيا يې. او په ډېر شرم د دې اعلان هم کوي چې مونږ په څرخ عمليات د دې لپاره پيل کړي دي چې د انتخاباتو لپاره زمينه برابره کړو. او حال دا چې دوی په دې بهانه د څرخيانو په عامه وژنه لګيا دي او خپل باداران پرې خوشحالوي.

د څرخ د ولسوالی خلک وايي چې دا څنګه د انتخاباتو لپاره زمينه سازي ده چې په مونږ مو توره شپه جوړه کړې ده. مونږه په خپلو کورونو کې وژنئ. زمونږ کورونه، باغونه، وغيره مو برباد کړل. مونږ له کورو څخه نه شو وتلی. په دې عملياتو سره خو تاسې موږه نور هم د رای اچولو څخه لرې کړو. موږه خو اول هم په هغه تير شوي انتخاباتو کې خپله رای نه کاروله او نه مو کارولې ده بلکه بکسونه خو تاسې په خپله ډک کړل. نو اوس يې هم څرخ ته مه راوړئ بلکه هماغته په کابل کې يې ډک کړئ.

بعضې خو لا داسې هم وايي چې عجب انتخابات دي چې دوی د انتخاباتو مواد په لسو ورځو کې د ولسوالی تر تعميره نشي راوړلی نو رای اچولو ته به خلک څرنګه ورشي.

همدا راز د خلکو په اند په حقيقت کې مزدوره اداره خپلو باديارانو ته د تنخواه حلالو په نيت او د دې لپاره چې خپلو باديارانو ته وښايي چې ګواکې دوی په څرخ ولسوالی کې د انتخاباتو لپاره لاره هواره کړې او مونږ کوی شو چې په يادې ولسوالی کې انتخابات وکړو. نو کله چې په دې کې پاتې راغلل. او خپله ناکامي يې په خپلو سترګو مشاهده کړه نو اوس زور له څرخيانو باسي. نو دا ظلم يې شروع کړ. خلک وايي چې انتخابات نه شی کولی نو د څرخيانو څه ګناه ده چې قتل عام مو پرې شروع کړی دی. او په دې خپلو کړو وړ شرميږی هم نه.

د افسوس خبره خو لا داده چې د کابل په سرينا هوټل کې يو ښځه او دوه ماشومان چې هغه هم تاسې ووژل. او بيا مو پرې په طالبانو ورواچوله. دومره مو ګرمه ونيوله چې چغې مو تر

امریکا او کانادا او اوروپا ورسېدلي. او مورچې تاسې په خپلو لاسونو وژنې او په مورچو د قتل عام بازار ګرم کړی دی. او بیا په دې باندې فخر هم کوی. او په ډېره بې شرمی سره د عملیاتو اعلانونه کوی. ایا مورچې افغانان نه یو یا بشر نه یو. او که کومه بله خو مورچې موجوده ده چې مورچه د سرینا هوټل د مقتولینو سره توپیر لرو چې مورچه جنایت کار او ګناهګاران بلل کیږو او د سرینا هوټل مقتولین بې ګناه.

عجیب بازار ده چې دوه نرخه پکې چلیږي. خو د ټولو څخه زیات افسوس بیا په دې ده چې مورچه تاسې د امریکایانو لپاره وژنې. او حال دا دی چې هغوی درڅخه خوشحاله هم نه دي. هغوی له تاسې سره هم داسې کړي چې اوس یې تاسې له مورچو سره کوئ. ایا له تاسو څخه هېر شو چې یوه نیمه میاشت د مخه په همدې د څرخ ولسوالی کې ستاسې دوه پوستې امریکایانو بمبار کړې. او د تاسې ټولو خانه یې در خرابه کړه. ټول هغه عسکر چې دې پوستو کې ول هغه یې د خپل عمل په سزا ورسول. او بیا یې له تاسې معذرت هم ونه غوښته. خو مورچه په دې حیران یو چې دا دومره زیاته وفاداري له امریکایونو سره په تاسې کې له کوم ځای را پیدا شوه. که د تاسې په ځای هر څوک وای دومره خو به یې کړي وو چې د اوسني عملیاتو چې د امریکایانو په وینا کیږي له دې سره به مو مقاطعه اعلان کړې وه. تاسې خو دومره هم ونه کړی شوی. افسوس دې وي صد افسوس دې وي ستاسو په دې حال.

د افغانستان د اسلامي امارت مشرتابه، مسؤلین، مشران او کشران همدا راز ټول ادارات خصوصاً د ملکي تلفاتو د مخنیوي اداره په هیڅ قیمت د خپلو ګرانو هیواد والو عام وژنه نه شي زغملی او په ډېر شدت سره دا پېښه غندي. او له متضررینو سره خپله د زړه له کومې تسلیت او خواخوږي ابرازوي. او غواړي چې د خلکو دا فریاد د میډیا له لارې نړیوالو ته ښکاره کړي. او دا ثابته کړي چې د افغانستان اسلامي امارت د ټل لپاره د خلکو او د مسلمانانو وژنه او زورونه غندلې ده. او په کراتو مراتو یې دا پټیلې ده چې د خپلو هیوادوالو څخه به تر اخري سلګی پورې دفاع کوي. ترڅو ګران هیوادوال یې له دې ناخوالو او کړاونو څخه نجات ومومي انشاء الله

مورچل دارالافتاء

مفتی ابو ماریہ

کہ له یوه مجاهده دبیت المال شئ ضائع شي ؟

الاستفتاء رقم ..... که یوتن دامارت یابیت المال شئ استعمال کړي اودامارت اجازه ورته نه وي ، نودغه تن دخپل دي عمل جبیره څرنګه کولی شي ؟ المستفتي ملا مبین احمد

الجواب حامدا ومصلیا وبعد: څوک چې دبیت المال مال ضائع یاتلف کړي ،نودهغه تاوان به ورکوي ، که چیرته دغه تلف شوی څیز دذوات القیم څخه ؤ (یعني داسې توکی ؤچې ډول یامثل یې نه درلود) نودهغه څیزقیمت به بیت المال ته ورکوي ، اوکه دذوات الامثال [یعني مثلي توکی ؤ] نوبیابه یې مثل ورکوي.

في مجلة الاحكام المادة ۹۱۲ اذا تلف واحد مال غيره الذي في يده اوفي يد امينه قصدا اومن غير قصد يضمن الخ

في الموسوعة الفقهية ۲۲۲\۸ لاخلاف بين الفقهاء في أن من اتلف شيئا من اموال بيت المال بغير حق كان ضامنا لما اتلفه وأن من اخذ منه شيئا بغير حق لزمه رده اورد مثله ان كان مثليا ،وقيمته ان كان قيميا

وفي رد المحتار ۱۲۸\۵ ويجب رد مثله ان هلك وهو مثلي وان انقطع المثل بان لا يوجد في السوق الخ والله تعالى اعلم

که یوه مجاهد په بند یخانه کې دا تمام په ځای قصر کړی وي ؟

الاستفتاء: محترم مفتي صاحب ! زه په یوسفر کې بندي شوم ، په بندي خانه کې مي لمونځ قصر کاوه ، په دي بندي خانه کې ډیر مجاهدین وځینو اتمام اوځینو قصر کاوو ، مونږته شرعي معلومات نه و ، نږدې یو کال مو په دغه محبس کې تیر کړی ، نو دغه لمونځونه اعاده غواړي ، اوکنه ؟ اوکه اعاده غواړي نو په څه ترتیب اعاده وکړو ؟ مهرباني وکړئ تفصیلی ځواب راکړئ. المستفتي حاجي اسدالله ۱۴۳۵ \ ۵\۱۱

الجواب حامداً ومصلیاً وبعد : په مذکوره صورت کې دځلورر کعتیزولمونځو راګرځول ضروري ده ، ځکه چې محبوس دحابس تابع دی یعني بندي دهغه چا چې دی ورسره بندي دی تابع دی.

اودلمونځونودراګرځولوطریقه داده: مثلا :چې داول ماسپښین [چې له ده نه قضاء شوي دي] نیت به کوي یادآخري ماسپښین. اودخپل طاقت سره سم به دلمونځونو په راګرځولو کې کوشش کوي .

لمافي فتح القدیر ۴۵-۲/۴۴ التبع کالعبد ،والغلام ،...والاسیر ،والمکره ،تعتبرنیة الاقامة والسفرمن متبوعهم دونهم...فیقضون ماصلوا قصراًقبل علمهم .

ومثله في البدائع:۱/۳۱۵.

و التبیین :۱/۲۱۲.

و فتح المعین:۳۱۰\۱

وفی خلاصة الفتاوي:۲۰۳/۱ والاصل هذا من کان ولیاً ،فالنیة فی السفروالاقامة ،نیة من یلی علیه...ولونوي مولی...ثم اخبره المولی ،کان اعادة تلک الصلوة.

وفی الخانیة:۱۵۲\۱۴۹\۱فالمعتبرنیة الحابس...وکذاالاسیر مع من اسره.

وفی الشامي:۷۴۱/۱-۷۴۵والمعتبرنیة المتبوع لانه الاصل لا التابع...کامرأة وعبد ،وجندی...واجیر ،واسیر،...والعبد فی الصلوة ینقلب فرضه اربعاًحتی لوسلم علی رأس الرکعتین ،کان علیه اعادة تلک الصلوة وفیه أیضا۲/۲۴۲-۲۵۰فیسعی ویقضی ماقدربعد فراغه ثم وثم..فان ارادتسهیل الامریقول:اول فجر مثلا...اواخرفجر. واللہ تعالی اعلم

دمجاهدينو په موبايلونو کې دقرآن کريم يانبوي احاديثو محفوظ کول ؟

الاستفتاء: ډيرمجاهدين د ټيليفون ميموري ته قرأن کريم اودآحاديثو کتابونه ورأچوي اوبيا يې يامطالعه کوي ياتلاوت کوي ، نوشرعا خوبه په دې کې کوم حرج نه وي که څرنګه ؟په يوه رساله کي ليکلي دي:چې داکار غيرمناسب ده،تاسو څه وايست؟بالخصوص که بياهغه په داسي ټيلفون کي وي چې هغه دکمرې ټيلفون وي،مولوي معراج الدين.

الجواب حامدا ومصليا وبعد:په موبايل،يامميموري،يا ايمپيتري کي قرآن کريم،دحديثو او فقهي کتابونه،مأثوره دعاګاني،اونورداډول سپيڅلي مواد... ،محفوظ کول جائزدي ، البته دغه ذکر شوي سپيڅلي مواد بايد په داسي موبائل يامميموري کي جمع اومحفوظ نه شي ، چې غلط تصاوير،يافحش ويډيوګاني پکې موجودي وي،که څه هم دغلطو تصاويرو اوويډيوګانو ګرځول په موبايل اوميموري کي محفوظ کول خان ته جرم اوګناه ده،همداراز:بايد دغه وړاندي ذکرشوي څيزونه دموبائل په سکرين باندي ښکاره نه وي،بالخصوص قضاء حاجت ته دتلو په مهال.

لمافي الترمذي ۱/۴۳۷:عن أنس رض،قال:كان النبي صلي الله عليه وسلم،اذادخل الخلاء نزع خاتمه،لكونه فيه اسم الله

وفي الدر المختار۱/۳۵۵:رقية غلاف متجاف لم يكره دخول الخلاء به ،والاحترازأفضل.

والله تعالي أعلم

دمجاهدينو له نومونو څخه ناوړه استفاده کول

الاستفتاء ۲۹۲:په افغانستان کي ډير خلک اوګوندونه دمجاهدينو په نوم فعاليت کوي،اوپه حکومت کي ګډدي،دوئ دمجاهدينو له نوم څخه استفاده کوي،اوځانونه مجاهدين ګڼي،آيا دغو خلګو ته مجاهدين ويل صحيح دي؟ډاکتريسين

الجواب حامدا ومصليا وبعد:که دغه مذکور کسان دراغلو کفارو سره مرسته کوي،اوداسلامي شريعت په خاى دهغوئ دقانون د پلي کيدو په لټه کي وي ،نودغه کسان عقيدة مرتد ګڼل کيږي،ألبته ترڅوچې دصريح کفر عقيده نه وي ځيني صادره شوي نودکفر او ارتداد احکام نه وربانديجاري کيږي ،

اوکه چېرته دويري اوډار له امله ددغو کفارو په څنګ کي پاته وي ،نور دکفارو اودهغوئ دملګرو نظام باطل ګڼي،اونه دهغوئ مرسته کوي،نوپه دغو کسانو باندي هجرت لازم دی،په ترک يي له قدرت سره ګناهګاريږي.

اوکه چيرته له کفارو سره اوسيږي ددنياوي ګټو په خاطر دکافرانو اودهغوئ دملګرو مرسته کوي،نوداخلک فساق ګڼل کيږي.له ذکر شوي تفصيل ورسته اوس داواضحه شوه چي مجاهد هغه چاته ويل کيږي چي داسلام دنفاذ ،اودکافرانو سوه په مبارزه بوخت وي،اوپه دغو کسانو کي چونکه داصفت نشته نو ځکه ورته مجاهدين نه شي ويل کيدلای.اوکه داسې خلک دمجاهدله سپيڅلي نوم څخه استفاده کوي نودايې بيابل جرم دی .

لما في الفتاوى الكاملية صـ٢٥١:والظاهر ان حكم هؤلآء حكم اهل دارالحرب في قتلهم وأخذ مالهم،وأما اولادهم فلا يقتلون ولايكونون فيئا ،وانما أبيح قتل البالغين منهم لكونهم رداً للعدو الحرب ومعينون له بانفسهم وحكم رده اذا لم يقاتل مع العدو وحكم المقاتل فأحرى اذا قاتل.

وفي ردالمحتار ٢/١٠٣:(وجميع الكبائر)اى:اهلها.والظاهر ان المراد بها المتعدي ضررها الى الغير ،فيكون قوله:(والعونة والسعاة)عطف تفسير اوعطف خاص على عام فيشمل كل من كان من اهل الفساد كالساهر والقاطع الطريق واللص واللوطي والخناق ونحوهم ...ممن عم ضرره ولاينزجر بغير القتل.(والاعونة)كأنه جمع معين اوعوان بمعناه،والمراد به الساعي الي الحكاد بالافساد.

وفي الحقانيه٥/٣٠٥:صورت مذکوره مي جن لوګون نې هجرت نهي کي هي اور وهان کميو نستون کې قرب وجوار مي زندګي بسر کررهې هون ،اور مجاهدين کې خلاف کميونستون کي اعانت نهي کرتې هو تواګرچه وه لوګ هجرت نه کرنې کي وجه سې ګناه کي مرتکب هوئې هي،ليکن شريعت مقدسه ان کو قصدا وارادة قتل کرنې کي اجازت نهي ديتي،البته ان کې اموال کو ضبط کرنا جبکه اس سې کفار کو فائده هورهاهو درست هې.

وفي الحقانيه٢/٣٠٢:کميو نستې چونکه اپنې عقائد اور نظريات کي بناء پراهل حرب قرار ديې ګئې هې ،لهذا واقعي طور پر جولوګ کميونستون کي حامي هو اوران کي ساة امداد اورتعاون کرتي هوتويه بي انهي لوګون کي حکم مي هي ،لهذا ان کو قتل کرنا مرخص هي .والله تعالى اعلم

طریقه رفتار با مخالفان

رسول خدا صلی الله علیه وسلم با کفار عادلانه رفتار می‌کرد و در راه اصلاح و دعوت آن‌ها از خود فداکاری نشان می‌داد و شکنجه و آزار آنان را تحمل می‌کرد و از بدی‌های آنان چشم می‌پوشید، چرا اینگونه رفتار نکند، در حالی که پروردگارش به او گفته است:

(و ما ارسلنک الا رحمة] (الأنبیاء: ۱۰۷) «ما تو را نفرستادیم جز رحمت»، برای چه کسانی؟ فقط برای مؤمنین؟! خیر. (رحمة للعالمین) بلکه «برای همه جهانیان.»

یهود به پیامبر صلی الله علیه وسلم ناسزا می‌گویند و به دشمنی و عداوت او مبادرت می‌ورزند. ولی با وجود آن نسبت به آنان مهربانی می‌کند.

حضرت عایشه می‌گوید: روزی یهود به خانه‌ی آنحضرت صلی الله علیه وسلم گذشتند و گفتند: «السام علیکم «یعنی مرگ بر شما. آنحضرت صلی الله علیه وسلم فرمود: «وعلیکم» وقتی عایشه این سخن آنان را شنید تحمل نکرد و گفت: مرگ بر شما و نفرین و خشم خدا بر شما باد. پیامبر صلی الله علیه وسلم فرمود: ای عایشه! آرام باش و از خشونت و ناسزاگویی پرهیز کن. عایشه گفت: مگر نشنیدی چه گفتند؟ آنحضرت صلی الله علیه وسلم فرمود: تو نیز شنیدی که من چه گفتم؟ من به آن‌ها جواب گفتم، پس دعای من در حق آن‌ها مستجاب می‌گردد، اما دعای آنان علیه من مورد اجابت قرار نمی‌گیرد.

آری، چه انگیزه‌ای وجود دارد تا ناسزاگویی مقابله به مثل شود! مگر خداوند به او نگفته است: (و قولوا للناس حسنا) یعنی «با مردم سخن نیک بگویید.»

پیامبر صلی الله علیه وسلم با اصحابش از غزوه‌ای برمی‌گشتند و در بیابانی که درختان انبوهی داشت، به استراحت پرداختند و اصحاب در زیر درختان این جنگل پراکنده شده و به استراحت پرداختند.

رسول خدا صلی الله علیه وسلم نیز زیر سایه درختی رفته و استراحت نمودند و شمشیرش را بر شاخه‌ای از درخت آویزان نمود و چادرش را پهن نمود و به خواب رفت. در این میان یکی از مشرکین آن‌ها را دنبال می‌کرد. وقتی دید که رسول خدا صلی الله علیه وسلم تنها است با آرامی نزد او آمد و شمشیرش را از شاخه‌ی درخت برداشت و با صدای بلند فریاد زد: ای محمد! چه کسی تو را از من بازمی‌دارد؟ رسول خدا صلی الله علیه وسلم بیدار شد در حالی که مرد بالای سرش ایستاده و شمشیر به دست دارد و مرگ بر او پرتو افکنده است.

رسول خدا صلی الله علیه وسلم تنها بود. و چیزی جز ازارش با او نبود. یارانش از وی متفرق شده و مشغول استراحت بودند. مرد در اوج قدرت و پیروزی به سر می‌برد و مرتب می‌گفت: چه کسی تو را از من بازمی‌دارد؟ چه کسی تو را از من نجات می‌دهد: رسول خدا صلی الله علیه وسلم با اطمینان گفت: الله! آن مرد لرزید و شمشیر از دستش افتاد. آنگاه رسول خدا صلی الله علیه وسلم برخاست و شمشیر را به دست گرفت و گفت: هان! بگو: چه کسی تو را از دست من بازمی‌دارد؟ آن شخص متغیر و سراسیمه شد و از رسول خدا صلی الله علیه وسلم معذرت‌خواهی نموده و طلب بخشش و ترحم می‌نمود و می‌گفت: کسی نیست، بهترین مواخذه‌کننده باش! رسول‌خدا صلی الله علیه وسلم گفت: مسلمان می‌شوی؟ گفت: خیر. اما با قومی که با تو به جنگ و نبرد می‌پردازند همراهی نمی‌کنم. لذا رسول خدا صلی الله علیه وسلم از او درگذر کرده و نسبت به او احسان نمود. این شخص سردار قومش بود و به سوی آن‌ها بازگشت و آن‌ها را به سوی اسلام دعوت نمود و همگی آنان مسلمان شدند. آری، با مردم نیکی و خوشرفتاری کن تا دل‌هایشان را به دست‌آورده و آن‌ها را رام نمایی. اخلاق آنحضرت صلی الله علیه وسلم حتی با دشمنان سرسخت اسلام بزرگ‌منشانه بوده و با آن عادلانه رفتار می‌کرد به طوری که آن‌ها را جذب نموده و قلب‌هایشان را هدایت نمود و به وسیله‌ی آن‌ها کفر را نابود می‌ساخت.

وقتی رسول خدا صلی الله علیه وسلم با دعوتش در بین مردم ظهور نمود قریش به هر طریق ممکن در مبارزه و نبرد با وی تلاش می‌کردند و یکی از روش‌های مبارزه با دعوت وی این بود که بزرگان آن‌ها گفتند: به سراغ مردی بروید که داناترین شما به سحر و پیشگویی باشد و او را پیش این مرد (پیامبر صلی الله علیه وسلم) که باعث تفرقه و شکاف میان مردم و دین‌مان شده و از دین‌مان ایراد می‌گیرد، بفرستید تا با او صحبت کند و ببیند که به او چه جواب می‌دهد. همگی گفتند: ما کسی غیر از «عتبه بن ربیعه» را نمی‌شناسیم. بزرگان قریش گفتند: این کار توست ای ابو ولید.

عتبه که در میان قومش از وجاهت و سیادت برخوردار و بسیار بردبار بود. گفت: ای قریش! شما مناسب دانسته‌اید تا من نزد این شخص بروم و با او سخن بگویم و اموری را به او پیشنهاد کنم، شاید برخی از آن‌ها را بپذیرد آن‌ها گفتند: بله ای ابو ولید!

عتبه برخاست و نزد رسول خدا صلی الله علیه وسلم رفت و در حالی که آنحضرت صلی الله علیه وسلم در کمال آرامش نشسته بود، در جلویش ایستاد و گفت: ای محمد! تو بهتری یا عبدالله؟ !رسول خدا صلی الله علیه وسلم به خاطر احترام پدرش عبدالله خاموش شد. بار دیگر گفت: تو بهتری یا عبدالمطلب؟ رسول خدا صلی الله علیه وسلم به خاطر احترام جدش عبدالمطلب ساکت ماندند.

عتبه گفت: پس اگر تو تصور می‌کنی که این‌ها از تو بهترند، پس آن‌ها معبودانی را پرستش نمودند که تو از آن‌ها ایراد می‌گیری و اگر بر این باور هستی که تو از آنان بهتری پس سخن بگو تا من سخنت را بشنوم. قبل از این که رسول خدا صلی الله علیه وسلم پاسخی بدهد، عتبه به خشم درآمد و گفت: به خدا سوگند ما هرگز بره‌ای (جوانی) (را شوم‌تر از تو میان قومش ندیده‌ایم! جمع ما را متفرق و افکارمان را پراگنده ساختی و از آیین ما ایراد می‌گیری و ما را در میان عرب‌ها شرمنده و رسوا ساختی، تا جایی که این خبر در همه جا پیچیده است که در میان قریش ساحر و غیبگویی وجود دارد به خدا قسم! ما در انتظار چیزی نیستیم جز این که صدایی همانند فریاد یک زن یاردار بشنویم و سپس شمشیر برداشته و بر همدیگر یورش ببریم و همدیگر را نابود سازیم!

عتبه بسیار خشمگین و ناراحت بود و رسول خدا صلی الله علیه وسلم در کمال ادب خاموش. آنگاه عتبه برخی پیشنهادات فریبنده را آغاز نمود تا رسول خدا از دعوتش بازآید. بنابراین، گفت: ای مرد! اگر قصد تو مال و سرمایه است، ما برای تو آنقدر سرمایه جمع می‌کنیم تا تو سرمایه‌دارترین فرد در میان قریش باشی، اگر به ریاست و پست و مقام تمایل داری، ما برتری تو را در میان خویش اعلام داشته و تو تا آخر عمر سرور ما خواهی بود. اگر تو دارای شهوت هستی و به زنان علاقه داری هرکدام از زنان قریش را که می‌خواهی انتخاب کن و ما حاضریم ده زن را به ازدواج تو درآوریم! و اگر شخصی که نزد تو می‌آید جنّی است که وقتی او را می‌بینی و نمی‌توانی آن را از خودت دفع نمایی، ما برایت دارویی طلب نموده و جهت بهبودی تو اموال خویش را صرف می‌نماییم، زیرا گاهی اشباح و ارواح آزاردهنده بر انسان غالب می‌شوند و می‌باید مورد معالجه و مداوا قرار گیرند.

همواره عتبه با این اسلوب بد و نازیبا با رسول خدا صلی الله علیه وسلم سخن می‌گفت و پیشنهادهایش را به وی عرضه می‌کرد و در صدد فریب بود و رسول خدا صلی الله علیه وسلم در کمال آرامش خاموش بود. طرح‌های پیشنهادی ریاست، پادشاهی، مال، زن و علاج پایان یافت و عتبه خاموش شده و آرام گشت و منتظر جواب ماند. رسول خدا صلی الله علیه وسلم چشمش را به سوی عتبه بلند کرد و در کمال آرامش گفت: ای ابوولید! آیا سخنانت به پایان رسید؟ عتبه از این ادب پیامبر راستگو و امین تعجب نمود. بلکه به طور خلاصه گفت: بله رسول خدا صلی الله علیه وسلم گفت: پس به من گوش فرا ده. عتبه گفت: بفرما. رسول خدا صلی الله علیه وسلم فرمود:

حم( ) تَنزِيلٌ مِّنَ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ( ) كِتَابٌ فُصِّلَتْ آيَاتُهُ قُرْآنًا عَرَبِيًّا لِّقَوْمٍ يَعْلَمُونَ( ) بَشِيرًا وَنَذِيرًا فَأَعْرَضَ أَكْثَرُهُمْ فَهُمْ لَا يَسْمَعُونَ( ) [فصلت: ۱-۴.[

یعنی: «حم. این کتاب از جانب خداوند بخشاینده و مهربان فرو فرستاده شده است. کتابی است که آیات آن واضح و روشن است در حالی که قرآنی به زبان عربی است برای قومی که نمی‌دانند. مژده دهنده و ترساننده است. پس اکثر مردم از آن روگردان شدند. پس این قوم نمی‌شنوند.« رسول خدا صلی الله علیه وسلم مشغول تلاوت این آیات بود و عتبه گوش می‌داد ناگهان عتبه بر زمین نشست، سپس بدنش به لرزه درآمد، دست‌هایش را به پشتش انداخت و بر آن‌ها تکیه زد و همواره گوش می‌داد و گوش می‌داد و رسول خدا صلی الله علیه وسلم تلاوت می‌کرد و تلاوت می‌کرد تا این که به این سخن خداوند رسید:

فَإِنْ أَعْرَضُوا فَقُلْ أَنذَرْتُكُمْ صَاعِقَةً مِّثْلَ صَاعِقَةِ عَادٍ وَثَمُودَ [فصلت: ۱۳.[

یعنی: «ای پیامبر! اگر (اهل مکه از این کتاب) روی بگردانند، پس به آن‌ها بگو: من شما را از عقوبتی چون عقوبت عاد و ثمود می‌ترسانم.«

وقتی عتبه این تهدید عذاب را شنید لرزه بر اندامش شد و پرید و دستش را بر دهان آنحضرت صلی الله علیه وسلم گذاشت تا از قرائت باز ایستد. باز رسول خدا صلی الله علیه وسلم به تلاوت آیات ادامه داد تا این که به آیه سجده تلاوت رسید و سجده نمود و باز سرش را از سجده برداشته و به عتبه نگاه کرد و گفت: شنیدی ای ابو ولید؟ گفت: بله. آنگاه فرمود: حال تو بدانی و این آیات. عتبه برخاست و در حالی که آنان در شوق انتظار به سر می‌بردند نزد آنان رفت، آنان به همدیگر می‌گفتند: به خدا قسم! ابوولید به غیر از آن روحیه‌ای که رفته بود، نزدتان می‌آید. وقتی عتبه در جمع آنان نشست، آن‌ها پرسیدند: چه چیزی پشت سر گذاشتی؟ گفت: به خدا قسم! من چیزی مانند آن نشنیده‌ام. سوگند به خدا! آن نه شعر بود و نه سحر و نه کهانت.

ای قریش! از من اطاعت کنید و این امر را به من واگذار نمایید این مرد را به امر و کارش رها کنید، ای قوم! به خدا قسم! این سخنش را که من شنیدم خبر بزرگی در بر دارد. او خواند:

حم( ) تَنزِيلٌ مِّنَ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ( ) تا این که رسید: فَإِنْ أَعْرَضُوا فَقُلْ أَنذَرْتُكُمْ صَاعِقَةً مِّثْلَ صَاعِقَةِ عَادٍ وَثَمُودَ

آنگاه من دهانش را نگه داشتم و او را به صله‌ی رحم سوگند دادم تا از خواندن باز آید و قطعاً شما می‌دانید که اگر محمد چیزی بگوید دروغ نمی‌گوید، پس من می‌ترسم که بر شما عذاب فرود آید. سپس ابوولید اندکی خاموش شد و به فکر فرو رفت و قومش خاموش گشته و چشمانشان به او خیره

شده بود ، سپس گفت: به خدا قسم ! در سخنش شیرینی بود و البته که بسیار مطبوع و دلپذیر بود. آری، او مانند درختی است که بالایش بسیار ثمردار و در پایینش میوه خیلی فراوان است .همانا او نابود نمی‌شود و او زیر دست خودش را درهم می‌شکند و چنین سخنی را بشر نمی‌تواند بگوید. این از دست انسانی ساخته نیست.

آن‌ها گفتند: ای ابوولید ! این شعر است شعر. ابوالولید گفت: به خدا سوگند ! کسی از من در شعر داناتر نیست و من کسی را در رجز و قصیده و نه به اشعار جنیان کسی داناتر از خود سراغ دارم به خدا سوگند آنچه که او می‌گوید با هیچکدام از این‌ها شباهت ندارد و همواره عتبه در مورد رسول خدا صلی الله علیه وسلم با قومش بحث و مناقشه می‌کرد ! آری، درست است که عتبه در دین اسلام داخل نشد ، اما درونش به دین اسلام نرم گردید. پس ببین چگونه این اخلاق رفیع و این مهارت نیکوی شنیدن، در عتبه اثر گذاشت با وجود این که او از سرسخت‌ترین دشمنان بود.

روز دیگری قریش گرد هم آمدند و »حصین بن منذر خزاعی« پدر صحابی بزرگوار «عمران بن حصین» را به نمایندگی از طرف خود جهت گفتگو و مذاکره نزد رسول‌خدا صلی الله علیه وسلم و بازداشتن او از دعوتش فرستادند.

ابوعمران نزد رسول خدا صلی الله علیه وسلم رفت، در حالی که اصحابش در پیرامون او نشسته بودند و آن جمله‌ای که قریش همواره بر زبان می‌آوردند گفت: تو جمع ما را پراکنده ساختی و افکار ما را متفرق نمودی. رسول خدا صلی الله علیه وسلم در کمال لطف و آرامش خاموش بود ، تا این که از سخنانش فارغ شد ، رسول خدا صلی الله علیه وسلم در کمال ادب و احترام گفت: ای ابوعمران ! آیا سخنانت تمام شد ؟ گفت :آری. آنحضرت صلی الله علیه وسلم فرمود: پس آنچه من از تو می‌پرسم جواب بده، ابوعمران گفت: بگو. گوشم به توست.

آنحضرت صلی الله علیه وسلم فرمود: ای ابوعمران ! تو امروز چند معبود را می‌پرستی؟ گفت: هفت معبود ! شش تا در زمین و یکی در آسمان ! رسول خدا صلی الله علیه وسلم پرسید: به هنگام ترس و امید به کدام یکی رجوع می‌کنی؟ گفت: به آن که در آسمان است. باز آنحضرت صلی الله علیه وسلم در کمال لطف و آرامش گفت: ای حصین ! اگر تو اسلام بیاوری من تو را دو کلمه یاد می‌دهم که به تو سود و فایده می‌دهند. حصین از جایش تکان نخورد و بلافاصله اسلام آورد و گفت: یا رسول الله ! دو کلمه‌ای را که به من وعده داده‌ای، یاد بده ! آنحضرت صلی الله علیه وسلم فرمود :بگو: «اللهُمَّ ألْهِمْنِي رُشْدِي، وَأعِذْنِي مِنْ شَرِّ نَفْسِي» «خدایا ! رشد و هوشیاری امر را به من الهام کن و من را از شر نفسم نجات بده.«

آه! چه‌قدر این برخورد عالی و شدت تأثیر آن در مردم به هنگام مخالفت با آنان زیبا و جالب بوده است. در واقع این برخورد اسلامی، و شیوه دعوت با حکمت و بصیرت است که در دعوت کفار و جذب آنان به سوی خیر، مفید و سودمند واقع شده است.

یکی از جوانان جهت تحصیل به آلمان سفر کرده و در یک واحد آپارتمان سکونت نموده بود. روبروی خانه‌ی او یک جوان آلمانی سکونت داشت که در میان آن‌ها هیچگونه رابطه‌ای وجود نداشت. بلکه فقط همسایه بودند.

اتفاقاً دانشجوی آلمانی به سفر رفت و توزیع‌کننده روزنامه‌ها، هر روز روزنامه‌ها را در کنار در منزل وی می‌گذاشت دوست جوان ما بر اثر انباشته‌شدن روزنامه‌های زیاد متوجه می‌شود و از حال همسایه‌اش جویا می‌شود. برایش معلوم می‌شود که او به سفر رفته است. از این جهت روزنامه‌ها را می‌پیچد و در یک قفسه مخصوص می‌گذارد و پیوسته هر روز آن‌ها را جمع کرده و مرتب می‌نماید.

پس از این که همسایه‌اش بعد از دو یا سه ماه برمی‌گردد به او سلام گفته و بازگشت وی را از سفر با سلامت تبریک عرض می‌نماید. سپس روزنامه‌ها را به او تقدیم می‌کند و باز به او می‌گوید: من گمان کردم شاید شما موضوعی را دنبال کرده یا در مسابقه‌ای اشتراک داشته‌اید، از این رو تصمیم گرفتم تا آن را از دست ندهد! همسایه آلمانی با تعجب به این رفتار انسانی او توجه نموده و می‌گوید: آیا در قبال این کار مزد یا پاداشی می‌خواهی؟ دوست ما می‌گوید: خیر، بلکه دین ما به ما دستور می‌دهد تا به همسایه نیکی و خوشرفتاری نماییم و شما همسایه من هستید، باید من با شما نیکی و خوشرفتاری کنم. سپس دوست ما با این همسایه به نیکی رفتار می‌کند، تا این که او به اسلام مشرف می‌شود.

سوگند به خدا! این است بهره و لذت حقیقی دنیا، و آن این که شما احساس نمایید در حساب با مردم راست هستید. شما با خاموشی به جا و مناسب در زندگی خویش، و به هرچیز حتی با اخلاق‌تان، خداوند را عبادت کنید. تعداد بی‌شماری از کفار هستند که دسته‌ای از مسلمانان با تعامل و برخورد غیر انسانی خویش مانع دخول آن‌ها در اسلام شده‌اند، به کارگران ستم نموده‌اند، در بازار آن‌ها را فریب داده‌اند و در همسایگی آنان را اذیت کرده‌اند! پس بشتاب و با تغییر رویه و تعامل اسلامی و انسانی و محبت‌آمیز با آنان رفتار نماییم.

روشنگری

...

»بهترین دعوتگران کسانی هستند که با اعمال و رفتارشان در انسان‌ها تأثیر می‌گذارند تا گفته‌هایشان. **(از کتاب: از زندگی ات لذت ببر)**

ددعوت ،ارشاد، جلب اوجذب کمیسیون دمارچ میاشتنی راپور

دروان(۲۰۱۴م)کال دمارچ په میاشت کي هم دتېرومیاشتوپه شان داسلامي امارت ددعوت ،ارشاد ،جلب اوجذب کمیسیون په هڅواودځایې مجاهدینوپه ملاتړدافغانستان په مختلفوولایاتوکي ۴۰۹تنه چي دکابل اداري اړوند بیلابیلوارګانونوکي په کاربوخت وو دحقایقوپه درک کولوددغه فاسد اوګوډاګي رژیم څخه راووتل اوداسلامي امارت دمجاهدینوسره یوځای شول.

ګرانولوستونکوهمداهم دتسلیم شووکسانوتفصیلي میاشتني ارقام :

فاریاب:۲۴تنه عسکر

سرپل:۱۴۴تنه عسکر

فراه:۴تنه عسکر

ارزګان:۱۲تنه عسکر

هرات:۳۵تنه عسکر

غزني:۲تنه عسکر

زابل:۸تنه عسکر

هلمند:۱۵تنه عسکر

کندهار:۱تن عسکر

کندوز:۹تنه عسکر

ننګرهار:۷۷تنه عسکر

بدخشان:۷تنه عسکر
پکتیکا:۷تنه عسکر
پکتیا:۲تنه عسکر
بلخ:۱تن عسکر
لغمان:۲تنه عسکر
کونړ:۴۴ تنه عسکر

اوپروان ولایت کي ۷ تنه عسکر دکابل دمنفور رژیم له لیکو څخه راووتل اوداسلامي امارت دمجاهدینو سره یوځای شول.

داسلامي امارت داتلو مجاهدینو سره یوځای شوو بادرکه هیوادوالو مختلفه النوع لوبې اووړې وسلې ،مخابرې ،وسایط اویوزیات شمېر مهمات مجاهدینو ته وسپارل.

دکابل دمنفور رژیم څخه راجلا شوو اوداسلامي امارت له مجاهدینو سره یوځای شوو هیوادوالو وعده وکړه چي نوربه دخپل ددین اووطن دخارجي اوداخلي مزدورانو سره هیڅ رازتعلق نه ساتي ،دخپل مظلوم ولس اومجاهدینو وړونو سره به همکاري کوي ،ترڅولوی خدای جل جلاله ژرترژره زمورږله ویاړلې خاوري څخه دکفر،فسق ،،اشغال ،فحشاءاوګمراهیو کرغیړن تغرتول کړي اودمسلمانانو دخوښي یوسوچه اسلامي واکمني رامنځته کړي چي دټول افغانان پرې راټول شي.

داسلامي امارت ددعوت ،ارشاد ،جلب اوجذب کمیسیون مشرتابه دوی ته هرکلی ووایه ،انعامونه اوجایزې یې ورکړې اوددوی همدانیک اقدام یې ډیروستایه چي دیرغلګرواولاسپوڅي رژیم څخه یې راووتل اودافغانستان اسلامي امارت دمجاهدینو سره یې خپل پیوستون اعلان کړ.

دافغانستان اسلامي امارت دګران هیواد څخه دوحشي یرغلګرودشړلو اوداسلامي اوملي نظام درامنځته کولو په موخه دران سپېځلی مقاومت په لړکي دنظامي فعالیت ترڅنګ سیاسي ،فرهنګي ،تعلیمي اودعوتي هڅې هم ګړندی کړي دي داسلامي امارت غښتلي مجاهدین دپراخوپوځي لاسته راوړنو څخه علاوه هره میاشت دهیواد په بیلابیلو ولایتونو اوولسوالیو کي ددعوت اوارشاد کمیسیون په هڅولکه پورته چي ذکرشول دکابل اداري څخه په سلهووتنه کارمندان راوزي اوداسلامي امارت غیږي ته پناراوړي.

دعوت اوارشاد کمیسیون

دحضرت ابوهريرة رضى الله تعالى عنه مور

مولوي سيال

دحضرت ابوهريرة رضى الله عنه دمور نوم أميمة دصبيح بن الحارث لور وه

كه څه هم دأميمې زوى حضرت ابوهريرة رضى الله تعالى عنه داسلام دمشرف كيدلو اودنبي كريم صلى الله عليه وسلم سره د دوامدار ي ملګرتيا وياړ ترلاسه كړى ؤ ، خومورې لا تردې دمه له اسلام نه ليرې پاتې وه ، يوه ورځ يې دحضرت ابوهريرة رضى الله عنه په وړاندې دنبي كريم صلى الله عليه وسلم دمبارک شان سپكاوى وكړ ،چې په دې سره حضرت ابوهريرة رضى الله عنه سخت خفه شو" خوځه يې كولاى شول !حكه چې په قرآن كريم كې دمو راوپلار سره دسلوک په اړه ډيرځه نازل شوي وو" نوپه ژړا ژړا درسول الله صلى الله عليه وسلم په خدمت كې حاضر شو او نبي كريم صلى الله عليه وسلم ته يې وويل : يارسول الله ! ته زما مور ته دعاوكړه چې الله تعالى يې په زړه كې داسلام دنور ډيوه بله كړي . سمدستي رسول الله صلى الله عليه وسلم لاس پورته كړ او دعايې ورته وكړه ، له دعاسره سم هلته دهغې په زړه كې يوسپيڅلى حركت پيل شو .داسلام سره يې مينه په زړه كې وټوكيده ،سمدستي يې غسل وكړ ،جامې يې بدلې كړې اودحضرت ابوهريرة رضى الله عنه په مخ كې يې دلاالـه الا الله محمدرسول الله مباركه كلمه وويله ، له دې سره دحضرت ابوهريرة رضى الله عنه په سترګو كې دخوښۍ له املـه اوښكې راغلې او نبي كريم صلى الله عليه وسلم يې دهغې له ايمان راوړلو خبر كړ ، رسول الله صلى الله عليه وسلم دالله تعالى شكر اداء كړ .

هو: هغه له نړۍ وكوچيده ،خودخپل سپيڅلي اسلام كيسه يې لاتراوسه دكتابونوپه پاڼو كې اوړې اورا اوړې ، اودهغې سعادتمني دشفيق زوى ياد دنړۍ په هرګوټ كې تكرارېږي . اوپه ډيرو پاكو ژبو جاري وي :

عن ابي هريرة رضى الله تعالى عنه قال : قال رسول الله صلى الله عليه وسلم .....

دشرعي امير تعريف ، حكم ، او غرض

مولوي سيلاب (عمر)

د شرعي امير او غير شرعي امير توپير د اسلام د دين د سترو عالمانو په تعريفونو کې نغښتی دی ، د اسلام په تاريخ کې د نړۍ د څرخنده کړې په مخ هغه نومیالي عالمان دي چې په خپله زمانه کې د لوړ بصيرت څښتنان او د نړۍ په کچه د پېچلو قضيو د حل او فصل لپاره د مرجع په توګه پېژندل کېده او خصوصا په عقائدو او سياسي علومو کې د لوړ لاس څښتنان وو ، دوی شرعي امير په لاندي تعريفونو کې راپېژني :

وَعَرَّفَهَا فِي المَقَاصد (سعد الدين "التفتازاني" : الفصل الرابع: في الإمامة وهي) رِيَاسَةٌ عَامَّةٌ فِي الدِّينِ وَالدُّنْيَا خِلَافَةٌ عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.رد المحتار مطلب شروط الإمامة الكبرى ج(١) ص(٥٤٨).

وَعَرَّفَهَا البيضاوي في "طوالع الأنوار" : الإمامة عبارة عن خلافة شخص من الأشخاص للرسول عليه السلام في إقامة القوانين الشرعية ، وحفظ حوزة الملة، على وجه يجب اتباعه على كافة الأمة.

دسترو عالمانو د امامت اړوند پورتنيو ذکر شوو تعريفونو مجموعه داسي شوه : امامت په ديني او دنيوي امورو کې د يوه لوړ واکي شخص نيوي نيابت دی .

مفهوم الإمامة والإمام: الإمام مصدر أمّ الناس صار لهم إماماً يتبعونه ، والإمامة: رياسة المسلمين ، والخلافة هي الإمامة الكبرى، وإمام المسلمين: الخليفة ومن جرى مجراه. كتاب الامامة ج(٢) ص(١) سعيد بن علي بن وهف القحطاني.

د امامت او امام مفهوم : امام (عربي لفظ دی) د امّ الناس ، څخه را اخيستل شوی دی (لارښود) چې انسانان يې (دحکم) پيروي کوي.

امامت او خلافت: د مسلمانانو لوړ ریاست، امارت، سلطنت، خلافت، او پاچاهي ته ویل کیږي.

نَصْبَ الإمَامِ الأعْظَمِ فَرْضٌ بِلا خِلافٍ بين أهْلِ الحَقِّ. بدائع الصنائع، كتاب ادب القاضي.

د امام د ټاکلو حکم: علاء الدین الکاساني په خپل کتاب بدائع الصنائع کې لیکلي دي: د مسلمه امت اهل حق عالمانو په اتفاق د رایو د امام ټاکل فرض ګڼلی دی.

عن ابن عباس قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم «الإسْلامُ والسُّلطانُ أخَوَان توأمان لا يصلح واحد منهما إلا بصاحبه فالإسلام أس والسلطان حارس وما لا أس له يهدم وما لا حارس له ضائع» كنز العمال في سنن الأقوال والأفعال برقم (١٤٧١٣) وايضا اخرجه في فضيلة العادلين أبو نعيم الأصبهاني. وجامع الاحاديث للسيوطي.

(أس): الأس بالضم أصل البناء، غريب الحديث.

ژباړه: حضرت ابن عباس رضی الله عنهما وویل: رسول الله صلی الله علیه وفرمایل: اسلام او سلطان (قدرت) دوه غبرګولي ورونه دي، یو پرته له هغه بل ځخه نه اصلاح (تربیه) کیږي، بلکي یوه اصلاح پر هغه بل پوري تړلي ده، اسلام تهداب دی او سلطن ساتونکی دی، هرشی چې تهداب نلري هغه له منځه ځي، هرشی چې ساتونکی نلري هغه زیان مومي.

والملوک والأئمة متى كانوا متمسكين بالشرائع كانت الفتن زائلة والمصالح حاصلة. تفسير اللباب أبو حفص عمر بن علي الدمشقي.

ژباړه: (عمر بن علی الدمشقی په خپل کتاب اللباب فی علوم الکتاب کې ویلي دي) امامان او پاچاهان چې ترکوم وخته د شریعت پیروان وي فتنې به له منځه ځي او ټول مصلحتونه به ترلاسه وي.

عن ابن عمر، قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: «لن تهلك الرعية وإن كانت ظالمة مسيئة إذا كانت الولاة هادية مهدية ولكن تهلك الرعية وإن كانت هادية مهدية إذا كانت الولاة ظالمة مسيئة». مسند الشهاب جـ(٢) صـ(٩٣) برقم(٩٥١). وكنز العمال: جـ(٢) صـ(٣١) برقم (١٤٧١٤). وفضيلة العادلين - أبو نعيم الأصبهاني صـ(١٥٢).

ژباړه: حضرت ابن عباس رضی الله عنهما وویل: رسول الله صلی الله علیه وفرمایل: هیڅکله هغه رعیت نه هلاکیږي، که څه هم ظلمونه او ګناوي کوي، چې ذمامداران (امیران) یې خدای پالونکي او نوروته هم دغه لاره ښیي، مګر هغه رعیت له هلاکت سره مخ کیږي که

څه هم دوی خدای پالونکي وي اونوروته هم دغه لاره ښيي ، چې زمامداران (امیران) یې ظالمان او ګناه کې لاهو وي .

فأهم وظائف الخلافة إقامة الشريعة وتمكينها والمحافظة على أسسها ، فالسلطة السياسية في الإسلام تتبع من الدين وعليها أن تحرسه وترعاه.

ژباړه : دخلافت تر ټولو مهمه وظیفه د شریعت جاري کول دي . تقویه کول ، او د هغه ساتنه ده ، اسلامي سیاست له دین څخه سرچینه اخلي ، له دې امله دهغه ساتنه او رعایت حتمي دی .

ويؤكد الماوردي هذه العلاقة بين الدين والسلطة السياسية حين يقرر أن الدين دون سلطة سياسية معرض للاضمحلال والزوال، وإذا انفصلت السياسة عن الدين انقلبت إلي استبداد وطغيان ولكن ليست غاية الخلافة تمكين الدين فحسب، بل إن من وظائفها الهامة سياسة الدنيا وعمارتها. موسوعة الرد على المذاهب الفكرية المعاصرة لعلي بن نايف الشحود .

وعلى ذلک فالسياسة جزء لا يتجزأ من الإسلام ، ولا فرق في الإسلام بين السياسة والدين.

ژباړه : امام ماوردي د سیاسي قدرت او دین تر منځ دغه اړیکه نوره مضبوطه کړې ده: دین پرته له سیاسي قدرت څخه د زوال او له منځه تلو په درشل کې دی ، که سیاسي قدرت له دین څخه جلاشي د ظلم ، خیانت ، او سرکشۍ لاره خپلوي ، هوکي د خلافت غرض دا نه ده چې یوازي د شریعت په نافذېدو به اکتفاء کوي ، بلکي مهمه وظیفه یې دا هم ده چې د دنیوي چارو تربیه او د ترقي پلانونه پیاده کوي .

د امام ماوردي د خبري انچور داسي شو ، چې سیاست د اسلام نه بېلېدونکی جزء دی ، او په اسلام کې د دین اوسیاست هیڅ توپیر نشته .

نتیجه : له پورتني حدیث شریف او دسترو عالمانو له تصریحاتو او څېړنو څخه جوته شوه چې دشرعي امیر تر ټولو لومړی وظیفه د اسلامي نظام پلی کېدل دي ، ځکه شرعي امامت ، امارت ، سلطنت ، خلافت ، نبوي او پیغمبري نیابت دی ، کوم نظام چې پیغمبر صلی الله علیه وسلم او د هغه خلفاء راشدینو په نظري توګه ښوولی اوعملي توګه پلی کړی دی دهمغه نظام تعقیب ددغو ذمامدارانو ایماني او عقیدوي دنده ده.

اسلامي سیاست نبوي نیابت دعالمانو حق دی

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ بَنِي إِسْرَائِيلَ كَانَتْ تَسُوسُهُمْ أَنْبِيَاؤُهُمْ . رواه البخاری برقم (٣١٩٢) ومسلم برقم (٣٤٢٩) .

تسوسهم: تحكمهم وتقودهم تدبر أمرهم وترعى شئونهم.

ژباړه: حضرت ابوهريره رضى الله عنه وويل: رسول الله عليه وسلم وفرمايل: د بني اسرائيلو سياست (حكومتي چاري) دهغو نبيانو چلولې.

قال النووي رحمه الله: "(تَسُوسهُمُ الأَنْبِيَاء) أَيْ: يَتَوَلَّوْنَ أُمُورهمْ كَمَا تَفْعَل الأُمَرَاء وَالوُلَاة بِالرَّعِيَّةِ, وَالسِّيَاسَة: القِيَام عَلَى الشَّيْء بِمَا يُصْلِحهُ" انتهى.

امام نووي رحمه الله ذكر كړي دي (تسوسهم الانبياء) يعنى: د بني اسرائيل د امورو داسي سرپرستي يې كوله لكه څه راز چې اميران او واليان په خپل رعية واک چلوي.

سياست: د يوشي د اصلاح لپاره تدبير كول دي.

عَنْ أَبِي الدَّرْدَاء قَالَ فَإِنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: «وَإِنَّ العُلَمَاءَ وَرَثَةُ الأَنْبِيَاءِ» رواه ابوداؤد في سننه برقم (٣١٥٧) والترمذى فى جامعه برقم (٢٦٠٢).

ژباړه: حضرت ابودرداء رضى الله عنه وويل: له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه مې واروېده چې هغه وفرمايل: په يقيني توګه عالمان د انبياؤ وارثان دي.

قال ابن نجيم "السِّيَاسَة هِيَ فِعْلُ شَيْءٍ من الحَاكِمِ لِمَصْلَحَةٍ يَرَاهَا وَإِنْ لم يَرِدْ بِذَلِكَ الفِعْلِ دَلِيلٌ جُزْئِيٌّ".

"البحر الرائق" جـ(٥) صـ(١١).

علامه ابن نجيم رحمه الله ويلي دي: سياست د امير هغه كاري اصولوته ويل كيږي چې د يوشي د اصلاح په غرض چلوي كه څه هم دهغه لپاره يې كوم جزئي دليل نه وي ترلاسه كړى.

وَالسِّيَاسَةُ نَوْعَانِ سِيَاسَةٌ عَادِلَةٌ تُخْرِجُ الحَقَّ من الظَّالِمِ الفَاجِرِ فَهِيَ من الشَّرِيعَةِ عِلْمُهَا من عِلْمِهَا وَجَهْلُهَا من جَهْلِهَا وقد صَنَّفَ النَّاس في السِّيَاسَةِ الشَّرْعِيَّةِ كُتُبًا مُتَعَدِّدَةً وَالنَّوْعُ الآخَرُ سِيَاسَةٌ ظَالِمَةٌ فَالشَّرِيعَةُ تُحَرِّمُهَا. البحر. جـ(٥) صـ(٧٢). و رد المحتار كتاب الحدود. وتفصيله فى معين الحكام صـ(١٧٩).

سياست دوه ډوله دى، يو سياست عادله دى، چې دهغه په وسيله د مظلوم حق له ظالم څخه اخيستل كيږي، دا شرعي سياست دى، قوانين او احكام يې له شرعي څخه اخيستل كيږي، څوک چې له شرعي علومو څخه بې برخي وي هغه شرعي سياست نشي چلولاى، دويم ډول سياست ظالمه دى چې شرع حرام ګڼلى دى.

وعرّف ابن خلدون السياسة الشرعية بأنها " حمل الكافة على مقتضى النظر الشرعي في مصالحهم الأخروية والدنيوية الراجعة إليها، إذ أحوال الدنيا ترجع كلها عند الشارع إلى اعتبارها بمصالح الآخرة، فهي في الحقيقة خلافة عن صاحب الشرع في حراسة الدين وسياسة الدنيا به " انتهى من "مقدمة ابن خلدون" (ص ۹۷).

علامه ابن خلدون شرعي سياست په دې تکو راپېژني: ټول خلګ هڅول چې دنيوي او اخروي امور د شريعت په چوکاټ کې اصلاح او منسجم کړي. ځکه د شارع په وړاندې دنيوي امور هغه وخت اعتبار لري چې د آخرت فائدې پکښې نغښتې وي. په حقيقت کې سياست د دين په ساتنه او د دنيوي چارو په اصلاح کې نبوي نيابت دی. رسول الله صلى الله عليه وسلم د نبوي سياست په لومړي پړاوکې د دين او عقيدې د ساتنې اقدامات کړي دي په دويم پړاوکې د آسماني شرع سره سم د امت مسلمه پر دنيوي چارو داسي سياست چلولی دی چې د آخرت ټولې ښېګړې پکښې نغښتې وې همدا راز اصحابو رضی الله عنهم او له هغو څخه وروسته اميرانو د خپل حکومت او سياست په دوران کې د مسلمان امت په دې توګه سرپرستي کړې ده چې تر ټولو لومړی يې له دين او عقيدې څخه دفاع، او دنيوي ټولې چارې يې د شرعی قانون په مټ سمبالي کړې وې.

عن ابن عباس قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم « الإسْلامُ والسُّلطانُ أخوَان توأمان لا يصلح واحد منهما إلا بصاحبه فالإسلام أس والسلطان حارس وما لا أس له يهدم وما لا حارس له ضائع » كنز العمال برقم (۱۴۲۱۳).

ژباړه: حضرت ابن عباس رضی الله عنهما وويل: رسول الله صلى الله عليه وفرمايل: اسلام او سلطان (قدرت) دوه غبرګولي ورونه دي، يو پرته له هغه بل څخه نه اصلاح (تربيه) کيږي، بلکې يوه اصلاح پر هغه بل پوري تړلې ده، اسلام تهداب دی او سلطان ساتونکی دی، هرشی چې تهداب نلري هغه له منځه ځي، هرشی چې ساتونکی نلري هغه زيان مومي.

پورتنيو صحيحو حديثو ته په کتو سره پيغمبر موروث دی عالمان يې وارثان دي مستحق د ميراث، نائب د موروث هغه څوک دی چې د وراثت سلسله يې ثابته شي د عالمانو وراثت او نيابت د پيغمبر صلى الله عليه وسلم په قولي حديث شريف ثابته شوه نو معلومه شوه چې اسلامي سياست، امارت، سلطنت، رياست، او خلافت د عالمانو منصوصي حق دی او مستحق يې عالمان دي، پوره ديارلس سوه (۱۳۰۰) کلونه مسلسل زمونږ د ګران هيواد افغانستان او همدا راز د اسلامي نړۍ د لروبر هيوادونو سياسي او حکومتي چارې عالمانو پر

مخ ببولي ارګ او ممبر دواړه دعالمانو ترواک لاندې ؤ . د اسلام شعائر، ديني مقدسات ، عقائد او مذاهب ، ديني عنعنات او ارزښتونه ، د اسلامي خاوري ټغور او سرحدات ټول محفوظ او خوندي کړې ؤ ، نبوي او محمدي امت يې متحد او يوموټی ساتلی ؤ ، له کله نه چې غربي عيسايي او يهودي شيطانانو د ټولي اسلامي نړۍ دارالخلافت په ترکيه کې درې وړې کړ ، انګريزانو اسلام ضد مستقل کفري ډيموکراسی دين د جمهوريت نظام نوي کاله وړاندې د (۱۹۲۴) عيسوي کال د مارچ د مياشتې په (۳) مه نيټه د سيکولر او نيشنليست ليبرال مصطفی کمال (اتاترک) په څېره کې د اسلامي نړۍ په دارالخلافت ترکيه باندې مسلط کړ ، ددين پالو عالمانو واک او قدرت يې غصب کړ ، ددې منحوسې څېرې له واک ته رسېدو وروسته په ترکيه کې د اسلام مبين دين له حکومتي نظام څخه په بشپړه توګه وشړل شو په مسجدونو او کورونوکې محصره پرې ولګېده ، د خبيث کمال اتاترک په مټ د اسلامي نړۍ په نورو هيوادونوکې هم ډيموکراسی سر ښکاره کړ څرېکه يې آن زمورږ ګران هيواد افغانستان ته هغه مهال راورسېده چې امير امان الله خان له انګريزانو سره د خبيثې ډيموکراسی مسوده ومنله نو کافرانو د خپلو روزل شوو او تربيه شوو اشخاصو په مټ دلته هم دخدای پالونکو عالمانو واک او قدرت غصب کړ. له حکومتي نظام او تشکيلاتو څخه يې عالمان ګوښه کړل عالمانو د ډېرو خورونو په ګالو او زغملو يوازي ممبر په خپل واک کې وساته ، په تدريجي توګه د اسلام د مبين دين ځای ډيموکراسی ونيو د نظام له قوانينوڅخه شريعي قوانين مخ په کوچېدو شول ، د شرع د اصطلاح نومونه لکه امير، سلطان ، ملک او پاچا په غير شرعي نوم لکه جمهور بدل شوو ، سلطنت ، امارت ، شاهي په جمهوريت بدل شوو دوخت په تېرېدو هرڅه بدل شول آن تردې چې لوستي کسان د اسلامي اوکفري نظام توپير نشي کولای نا لوستو څخه داسي تمه نه کيږي ، د کافرانو روزل شوو تاليځټو نبوي محمدي متحد يوموټی امت يې د تنظيمونو ډلو ټپلو په رامنځ ته کېدو ټکره ټکره کړ ، دا عين دکفري ډيموکراسی له لويو هدفونه څخه ؤ . دکفري تاليځټو روزل شوو په اصطلاح روشنفکره اهل کارو له برکته قومي ، سمتي او ژبني د نفاق اورته په پراخه پيمانه لمني ووهلي شوې ، بد اخلاقي ، فسادات ، نفرتونه ، ناموس فروشی ، وطن فروشی ، د شرعي د احکامو پايمالېدل ، ددين سپکاوی ، د کفري نظريانو او عقائدو تسليط ، بې نظمي ، او د فيډرالي نظام د تجويز په توطيه د هيواد تجزيه کېدل ، ناحقه قتلونه ، ظلمونه ، دحقوقو ضياع ، د راتلونکو نسلونو د تيارې برخليک توطيې اوج ته ورسېدې، راز راز عقائد هيواد ته ننوتل .

د امت مسلمه نجات او د ټولو فتنو علاج يوازي او يوازي اسلامي نظام دی ، نور هرډول تدبيرونه د مست سيلاب مخي ته د شگو بندونه دي ، پر عالمانو لازم دی چې خپل غصب شوی حق اسلامي نظام چې نبوي نيابت دی له غاصبو قوتونو څخه په هرقيمت چې وي ترې واخلي او دغه پيغمبري ميراث خوندي کړي ، د کافرانو په لاس روزل شوي غاصبينو په سپېځلي دين او شرع ملنډي وهي قدرت ته د رسېدو د لاس آله يې ترې جوړه کړې ده ، غاصبينو د اسلام او کفر توپير نشي کولای دوی نبوي نيابت د ځان حق ګڼي . له دې سره سره نه يې حق دی او نه يې مستحقين دي ، غاصبينو د اسلام سپېځلی کامل دين چې د انسانيت د ټول حيات ضابطه ده او د دنيوي او اخروي دواړو ښېګړو ضامن او متکفل دين دی ، دوی ټولې نړۍ ته د موسوي او عيسوي منسوخو اديانو غوندي بې کفايته معرفي کړ. عالمان دي نور دغاصبينو په غولونکو تبليغاتو نه غوليږي چې دوی په عامو محاوروکې مشهوره کړې ده چې (د عالمانو له سياست سره څه کاردی دوی دي خپل محراب او ممبر خوندي کړي) دوی د عالمانو دپاره نبوي ريښتينی نيابت عيب ګڼي او دخپلو ځانو لپاره د سوچ درواغو ادعا او کاذب سياست افتخار ګڼي ، دا هوبهو د سيکولرکافرانو راز دی چې دغاصبينو تر خولو راوزي ، که عالمان خپله ذمواري اومسئوليت سمبال نکړي ، د ذلت او محکوميت ثقافت د ځان لپاره خيروګڼي ، نو ديني ارزښتونه ، عقائد ، عبادات ، معاملات ، حقوق ،عنعنات ، مناکحات ، انساب ، حدود ، قصاص ، اخلاق ، او امن به له منځه ولاړ شي ، نسلونه به ضائع شي ، بې اسلامه مسلمانان ، بې ايمانه مؤمنان ، بې عقيدې معتقدين ، بې علمه عالمان ، بې حريته احرار ، بې واکه واکمنان او غير اسلامي عامه انتخاباتو د رايو د فقر سوالګر پنځه کلنې حکومتونه به رامنځ ته شي چې د فساد او رشوت له اصافو سره سره له اميره تر مامورو به د تل لپاره د ملت له خزانې څخه غلا د دوی وجيبه وي، هغه فتنې به وزېږوي چې بيا مخنيوی به يې د ميلينونو مسلمانانو د سرونو خيراتونه غواړي او مسئوليت به يې ديني عالمانوته راجع وي .

د اسلامي نظام د قيام لپاره د امت مسلمه په هر شخص نارينه اوښځينه باندي د عالمانو هر اړخيز ملاتړ فرض او لازم دی ، ځکه د لوی خدای رضا ، د محمدي امت نجات ، دنيوي او اخروي ښېګړي او په هيواد کې د امن هوسا ژوند يوازي او يوازي د اسلامي نظام په قيام کې نغښتي دي .

حبیب مجاهد

طالبانو، د رژیم او غربي میډیا پالیسۍ وننګولې

په افغانستان کې له سیاسي ، پوځي او تبلیغاتي لیدلوري حالت دحساسیت اوج ته رسیدلي ، په داسې حال کې چې امریکایان له هیوداده تښتي ، کوښښ کوي دخپل پاتي شوني رژیم لپاره اعتبار کسب کړي او په وړاندې موجود جهادي خوځښت یې بې اعتباره او معمولي وښیي.

د همدې لپاره یې دا ډیره موده تبلیغاتي لوبه پیل کړې ده ، بېلا بیل تورونه ، افواهات ، ړانده تهمتونه او دواکمن رژیم د ځلولو لپاره نمایشي هڅې دهمدې بهیر برخه دي.

د رانوي شوي لمریز کال لومړی شل ورځې له دې اړخه ډیرې مهمې دي ، چې له یوې خوا په همدې ورځو کې په کابل کې د زردشتي اختر نړیوال مراسم جوړیږي ، او ورپسې د ولسمشرۍ او ولایتي شوراګانو انتخابات ترسره کیږي ، چې دواړه مهم رویدادونه دي.

واکمن رژیم او غربي اشغالګر هڅه کوي ، داسې وښیي چې مقابل جهادي خوځښت یې ځپلی دی ، او دوی کولای شي دومره ستر دولتي مراسم په سمه توګه ترسره کړي ، دهمدې لپاره که له یوې خوا دپوځي عملیاتو خبرې کوي ، له بلې خوا یې تبلیغاتي لوبه هم ګرمه ساتلې ده.

خو له بلې خوا دپسرلي په رابریدو سره جهادي بریدونو دهر کله په نسبت زیات قوت او شدت موندلی ، نږدې هره ورځ دحکومت په حساسو ادارو پوځي بریدونه ترسره کیږي ، دارګ په څومترۍ کې ساعتونه ساعتونه جنګ دوام پیدا کوي او هیڅ دولتي مرکز له برید څخه د خوندیتوب امنیتي تضمین نه لري.

په تیرو څو ورځو کې په کندهار ،فراه ، ننګرهار ، کابل او کونړ کې ډلییز استشهادي بریدونه چې مطبوعاتو یې په منظم ډول دپایلو له اعلان څخه انکار وکړ ، د مکان او زمان دحساسیت له اړخه خورا مهم او اغیزمن عملیات وو ، چې د حکومت د ځواک او حاکمیت ادعاء یې په صفر کې ضرب کړه.

دارګ په څومتري کې دسرینا هوټل په عملیاتو کې چې کله یو تن مشکوک خبریال دنامعلوم جهت له لوري ووژل شو ، ارګ میشتو او غربي مشاورینو یې همدا ښه فرصت وباله ترڅو لږ تر لږه د ورپیښیدونکي رسوایي او شکست مطبوعاتي ازانګه کنترول او تریوه حده خپله رژیدلې آبرو وساتي.

په همدې خاطر رسنیزو تمویلوونکو غربي مراجعو په خپلو ماتحتو رسنیو امر وکړ چې د خبریال د وژل کیدو په بهانه دي دانتخاباتو دپای ته رسیدو ترنیټې پورې دطالبانو خبرونه تحریم کړي.

مغرضو رسنیو هم دا ښه بهانه وبلله او په یوه اعلان سره یې دجهادي خبرونو په خپرولو بندیز ولګاوو ، مګر ددې اعلان په سبا مجاهدینو په عملي عکس العمل سره په کابل او دهیواد په نورو سیمو کې داسې عملیات ترسره کړل ، چې رسنۍ یې په خپله پریکړه کې له چیلنج سره مخامخ کړې . طالبانو په کونړ کې د عسکرو د معاش اخیستلو په مرکز او په کابل کې دانتخاباتو دکمیسیون په یوه مهم مرکز داسې مهال برید ترسره کړ ، چې په عین وخت کې حامد کرزی په همدې سیمه کې وو چې له پارلمان څخه بیرته دارګ په خوا روان وو.

دې حساسو عملیاتو رسنۍ مجبورې کړې ، چې دعملیاتو راپورونه نشر کړي ،او په دې ډول خپله پریکړه په خپله ماته کړي.

له بلې خوا دوروستیو عملیاتو په نتیجه کې ارګ میشتي مجبور شول د نوروز دنږیوالو مراسمو لمانځل له پغمان څخه کابل ته انتقال کړي ، ځکه د بریدونو په نتیجه کې د واکمن رژیم امنیتي بې وسي هرچا ته ظاهره شوه.

راپورونه وایي دسرینا هوټل له عملیاتو وروسته له کابل څخه هغه ټول بهرني کارکوونکي تښتیدلي دي چې کابل ته د انتخاباتو د څار په موخه راغلي وو ، دغو کسانو د وروستیو څو بریدونو نه وروسته په رژیم باندې خپل اعتماد له لاسه ورکړی نو ځکه یې بیرته په راغلې لار د تیښتې مخه نیولې.

یو شمیر کتونکي په دې باور دي چې که چیرې عملیاتي لړۍ همداسې دوام پیدا کړي ، شاید واکمن رژیم مجبور شي چې د انتخاباتو پروسه تعطیل کړي . چې دا به دمجاهدینو ستره بریا وي ، ځکه مجاهدینو په خپله یوه اعلامیه کې وویلي ، چې د اشغال په سیوري کې انتخابات یوه غولوونکي پروسه ده چې غربیان غواړي له دې لارې خپل ګوډاګیان واک ته ورسوي.

په ټوله کې روان عملیات او په نتیجه کې یې رامنځته شوي دپالیسیو او وضعیت تغیرات ښیي چې مجاهدینو هم په نظامي او هم په تبلیغاتي محاذ کې ددښمن پالیسي ننګولي دي او دښمن یې دائما د متزلزل او کاواکه حالت په دائره کې محصور ساتلی

جنګي جنايتونه (مارچ)

سيدسيعد

دروان (۲۰۱۴ز.) کال دمارچ په لومړۍ نيټه رسنيو خبر ورکړچې د پروان ولايت دکوه صافي ولسوالۍ په منډيکول سيمه کي ديرغلګرو ځواکونو اوداخلي عسکرودخپل منځي ننبتي په پايله کي درې تنه ولسي هيوادوال شهيدان شوي دي.

دمارچ په اوله نيټه خبر ورکول شوچي تېره ورځ اشغالګرو عسکرو د تخار ولايت داشکمش ولسوالۍ په چشمه مايان سيمه کي دخلګو پرکورونو چاپه وهلې ،اودکورونوتر تلاشي کولوروسته يې ځلورتنه ملکي وګړي بنديان کړي دي.

دمارچ په۲مه د لغمان ولايت دالينګار ولسوالۍ په سنګر سيمه کي ديرغلګروپه بمبارکي دوه ولسي وګړي شهيدان شوي دي.

دمارچ په۲مه د لوګر ولايت مرکز پل علم ته نژدې د اشغالګرو عسکرو په بمبارکي دوې ښځي اودوه نارينه شهيدان شوي دي.

دمارچ په ۳مه دهلمندولايت د ګرشک ولسوالۍ دنهر سراج په يخچال سيمه کي يرغلګرو چاپه وهلې، ځلورتنه ولسي وګړي يې بند يان کړي دي.

دمارچ په ۱۰مه دکندز ولايت د قرول تيې په سيمه کي اربکيانويو ملکي وګړی (قطب الدين)شهيد کړی دی.

دمارچ په ۱۱ مه يرغلګروځواکونودهلمندولايت د واشيرولسوالۍ دشاپښتې په ناخومګري سيمه کي دچاپې پرمهال يودوکان دار بندي کړی دی.

دمارچ په ۱۱مه دغزني ولايت د مقر ولسوالۍ په چمبرانوکلي کي اربکيانود مولوي صاحب نجيب الله په کور چاپه وهلې، اونومورۍ يې شهيد کړی دی.

دمارچ په ۱۲مه دهلمند ولایت دسنګین ولسوالی د سیدول کاریز په بابا فقیر سیمه کې کورنیو عسکرو یو ملکي هیوادوال (ولیجان د رؤف ماما زوی) شهید کړی، کالي یې تړې ایستلي ،په ټانګ پوري یې ترلی او دسنګین په بازار کې یې کش کړی دی.

دمارچ په ۱۲مه د میدان وردګ ولایت د سیداباد ولسوالی د شنیز درې په یوسف خیل سیمه کې دبې پیلوټه الوتکې په برید کې یو ملکی سړی (خدای نور)شهید شوی دی.

دمارچ په ۱۳مه دهلمند ولایت د واشیر ولسوالی په دباري کلي کې اشغالګرو اوداخلي عسکرو پنځه ویشت تنه ملکي هیوادوال بند یان کړي دي.

دمارچ په ۱۴مه دزابل ولایت د ارغنداب ولسوالی په موچي کلي باندي کورنیو عسکرو دچاپې پر وخت پنځه تنه ولسي وګړي بندیان کړي دي.

دمارچ په ۱۴مه نیواکګرو عسکرو دبغلان ولایت د برکه ولسوالی دفلول په کمر جمالي کلي دچاپې پر مهال دخلګو کورونه تلاشي کړي اوبیایې ملا امام(مطبع الله) له ځان سره دبندي په توګه وړی دی.

دمارچ په ۱۲مه د فراه ولایت دپرچمن ولسوالی په چراغ خاج کلي کې دډغي ولسوالی ولسوال (حاجي داود)د عبدالغنی او حافظ قدرت الله په نوم هیوادوالو کورنه د تلاشی پر مهال چورکړي اودیادوشو وکسانو دنه شتون په حالت کې یې دوه کوچنیان چې یو ۲کلن اوبل د ۲۰شپږوولې ځان سره وړي اوبیایې شهیدان کړي دي.

دمارچ په ۲۰مه د ننګرهار ولایت د هسکې مینې ولسوالی کې اووه تنه قومي مشران چې دطالبانو سره یې دځوتنو بندیانو دخوشي کیدو په اړه خبري کولې، تر خبرو کولو وروسته خپلو کورنو ته دراستنیدو پر وخت داخلي عسکرو ډزې پرې کړې ځلور تنه یې شهیدان کړي اودرې کسه یې ژوبل کړي دي.

دمارچ په ۲۱مه یرغلګرو ځواکونو د ننګرهار ولایت د خوګیانو ولسوالی دوزیرو پیره خیل په عمر او وتي کلي باندي چاپه وهلې، د تلاشی پر مهال یې خلګو ته مالي زیانونه اړولي، یو ملکي هیوادوال یې شهید کړی ،یوه ښځه یې ژوبله کړې اوهمدا رازې دوه تنه ولسي وګړي بندیان کړي دي

دمارچ په ۲۲مه دکاپیسا ولایت دتګاب ولسوالی په نوروزخپلو سیمه کې دداخلي عسکرو په ډزو کې یو ماشوم شهید اودوه کوچنیان ټپیان شوي دي.

دمارچ په ۲۵مه دکندهار ولایت دمیوند ولسوالی په کوکي دښت سیمه کې یرغلګرو ځواکونو دافغان عسکرو په ملتیاله کورونو ځخه ځلور تنه ولسي وګړي رایستلي اوشهیدان کړي دي.

دمارچ په ۲۴مه دفراه ولایت دبالابلوک ولسوالی په ګراني سیمه کي دیوې دودیزې میلې په لاره کي اربکیانو اوپولیسو د خلکو څخه دتذکیرې او ثبت نام کارت نه درلودو په صورت کي سړي سر زر – زرافغانۍ اخیستي دي.

دمارچ په ۲۴مه یرغلګرو پوځیانو دهلمند ولایت په نادعلي ولسوالی کي دوه ملکي وګړي بندیان کړي دي.

دمارچ په ۲۷ مه اشغالګرو عسکرو دشپنیو عملیاتو په لړکي د غزني ولایت د شلګر ولسوالی په لیوانو سیمه کي چاپه وهلې. دکورونو دتلاشۍ څخه وروسته یې لس تنه ولسي وګړي دبندیانو په توګه له ځان سره وړي دي.

دمارچ په ۲۷ مه د بدخشان ولایت د جرم ولسوالی په فرغا منج سیمه کي دداخلي عسکرو په ډزو کي پنځه تنه ملکي هیوادوال ژوبل شوي دي.

دمارچ په ۲۷مه دننګرهار ولایت دخوګیانو ولسوالی په وزیرو کمو سیمه کي دامریکایې عسکرو په چاپه کي یو ملکي سړی شهید شوی دی.

دمارچ په ۲۷ مه دلوګر ولایت دخرخ ولسوالی په چاربرجه سیمه کي دداخلي عسکرو دهاوان په ډزو کي دببرک نومي کلیوال دکور یوه ښځه شهیده شوې اوپنځه ماشومان یې ژوبل شوي دي.

دمارچ په ۲۸مه اشغالګرو عسکرو د بلخ ولایت د شولګرې ولسوالی په سیاب سیمه کي دوه تنه ولسي وګړي بندیان کړي دي.

دمارچ په ۲۸مه دفاریاب ولایت ددولت اباد ولسوالی په شور دریا سیمه کي دداخلي عسکرو دهاوان مرمي دلګیدوله املیه یوه ښځه شهیده شوې اودرې کوچنیان ژوبل شوي دي.

دمارچ په ۲۹ مه ماښام مهال اربکیانو د کاپیسا ولایت د نجراب ولسوالی په پچغان سیمه کي یو دیني عالم (مولوي صاحب سیدمیر) له خپل کورڅخه بهر کړی اوبیا یې شهید کړی دی.

دمارچ په ۳۰مه رسنیو خبر ورکړچي د لوګر ولایت دخرخ ولسوالی په مربوطاتو کي دداخلي عسکرو په هغو عملیاتو کي چې تاکنو ته دزمینې برابرولو په موخه پیل شوي ؤ،ولسي خلګو ته دسرو مال ډیرزیانونه اوښتې دي دځایې خلګو دوینا له مخې د یادو شو عملیاتو په ترڅ کي یوولس تنه ملکي هیوادوال شهیدان شوي اوځلوینښت تنه ژوبل شوي دي.

مأخذونه.[بي بي سي رادیو،ازادي=،افغان اسلامي اژانس،پژواک،خبریال ویپانه،لراوبر=،نن ټکی اسیا=اوبینوا=]

شهيدي قافلي

نوم	د پلارنوم	د نيكه‌نوم	ولايت	ولسوالي	كلي	قوم
شهيد شاه مقصود رحمه‌الله	حاجي ملوك		ميدان وردګ	مركز	كوته عشرو	

نوموړي خپل عصري علوم تر دوولسم ټولګي پوري د رستم خيلو په عالي‌ليسه كي سرته رسولي وه، چي وروسته د ميدان ښار عالي دارلمعلمين ته كامياب شو او په ۱۳۹۰ هجري ش كي‌له دارالمعلمين څخه فارغ شو.

څرنګه چي نوموړی په يوه ديندار كورنۍ كي زيږدلی وو، له ماشومتوب څخه يي له جهاد سره بې كچې مينه درلوده.

له تيرو څو كلونو را هيسی د مجاهدينو په خدمت كي مشغول وو، بالاخره يي سنګر ته مخه كړه‌او له‌خپلو مجاهدينو وروڼو سره د اشعالګرو په خلاف اوږه په اوږه جنګيدی.

شهيد شاه مقصود د ۱۳۹۰كال د جدي په ۲۵ تاريخ د امريكايانو له خوا ونيول شو، چي د ۱۳۹۱ كال د جدي‌د مياشتي په ۱۷ تاريخ د بګرام له زندان څخه راخلاص شو، او يو وار بيا يي‌د اسلامي امارت تر قيادت لاندي له خپلو مجاهدو وروڼو سره خپل جهاد ته‌ادامه‌وركړه. بالاخره په ۱۳۹۲ هجری ش كال د سنبلی په ۵ د اجيری اردو له خوا په شهادت ورسيد. روح دي يي ښاد او ياد دي يي تل‌وي نحسبه كذلک

نوم	د پلارنوم	د نیکه نوم	ولایت	ولسوالي	کلی	قوم
شهید عصمت الله فاتح	حفیظ الله		میدان وردګ	مرکز	ممیخیل	

شهید (فاتح) د ۱۳۷۲هش کال په اړدوکي دې فاني دنیا ته سترګی رارنې کړې.

داچې نوموړی په یوه دینداره کورنی کې زیږیدلی وو؛ نوله ماشومتوبه یې لاله جهاد سره بې پایه مینه درلوده.

شهید عصمت الله ابتدایي زدکړې د خپل کلي له ملا امام څخه زده کړې، او عصري علوم یې د میدان ښار په مشهوره عالي لیسه حضرت سلمان فارسي رضی الله تعالی عنه ،کې تر ۱۲ ټولګی پورې سرته ورسول، او دیني زدکړې یې بیا د ګاونډي هیواد پاکستان د پیښور ښار د بورډ په سیمه کې د تاج آباد (دارالعلوم الفاروقیه) کې ولوستلې ،له عادت سره سم به یې د ژمي په وخت خپل درسونه ویل او داوړي په موسم کې به یې له مجاهدینوسره داشغالګرو په خلاف جهادي سنګر ګرم ساتلی وو.

له دې سره سره چې د عمر په لحاظ ډیر کم وو خو عزم ،همت او ځیرکتیا ته یې خلګ حیران وو، تل به یې د دښمن په خلاف کامیاب پلانونه طرحه کول. بالآخره په ۱۳۹۲ هجري ش کال د میزان په ۱۱ نیټه د شهادت لوړ مقام ته ورسید، اناالله وانالیه راجعون

شهادت

عبدالغفور مفکر

ډیرې مینې لښونی در پسې ګرځي
چنارونه ګل غوټی در پسې ګرځي
یې عنقا خو پیدایش دي عنقا مه شه
مسلمانه ناوکی در پسې ګرځي
شفق واخستلو رنګ دا ستا له وینو
څکه لمر ستوري سپوږمی در پسې ګرځي
دکوثر مرمرین جام یې که پیدا شوې
په خندا مستې خوانی در پسې ګرځي
اې دخدای خوږه رحمته شهادته !
مفکر تل په خوښی در پسې ګرځي

شهید حافظ القرآن محمد رحمه الله

شهید محمد رحمه الله او تخلص یی حمزه دي ، د مرحوم حاجی محمد خواص خان زوی تقریباً ۲۲ کاله پخوا یعنی ۱۳۷۲ ه ش کښی د هجرت په دیار کښی د پاکستان دباړی په سیمه کښی په یوه دینداره او جهاد پاله کورنی کښی دنیاته سترګی وغړولي.

دشهید والد ګرامي حاجی محمد خواص عالم او باعمل او د تصوف له شایقینو څخه ؤ ، په مدرسه دارلعلوم سیفیه کی څو کاله مدرس پاتی شوی ؤ او همغه ځای څخه یی خپل ځوی د ه دینی تربیه لاندی نیولي ؤ ، او په اسلامی خذبه یی سمبال کړی ؤ ، کله چی د شهید محمد رحمه الله والد ګرامی وفات شو ، نو محمد شهید رحمه الله خپلی اسلامي زده کړی ته پخپل اصل ټا ټوبی افغانستان ننګرهارولایت بټی کوټ ولسوالی د انبارخانی په کلی کښی انوارالقران مدرسی کښی حفظ تکمیل کړو.

نوموړی شهید له ماشومتوب څخه دښو اخلاقو خاوند ؤ ، خاموش صفته مجاهد ؤ ، دلمونځ کوونکی ، تهجد ګزاره، همیشه تلاوت کوونکی ؤ ،

په الله مییین ،دحورو عاشق ،

دحفظ له تکمیل څخه وروسته دینی کتابونه شروع کړل ، په مدرسه نجم المدارس دمارکو بازار کښی ، خو د حالاتو دتقاضا مطابق درسونه ته نیمه کی پاتی شو او عملاً دجهاد سنګر ته را ووتو ، او عملی جهاد شروع کړو ، او د اشغالګرو قواو په خلاف نوموړی شهید په جهادی مبارزه کښی دیر زړور او دلیر او بهادر انسان ؤ ، او خیر خواهی سره مشهور ؤ ، له اختلافاتو او تنازعاتو مذهبی او قوي څخه بی یی زیاته کرکه کوله ،

نوموړی شهید دبټی کوټ ولسوالي په اکثروجهادي کارنامو کښی برخه اخیسته ، تردي چی نوموړي شهید د جهاد سره له ډیر مینی له کبله استشهادي برید لپاره هم شکل کړي ؤ خو حالات مساعد نشو.

دنوموړی کورنی نه دا آخري شهید دی او نه یی اولین شهید دي لا کورنی دجهاد سرښندنی ، فداکاري او قربانی په هر وخت کښی ورکړی دی.

دنوموړی شهید تره حاجی محمد ناصح صدیق نومیږی چه د ننګرهار ولایت کی یی ده روسانو خلاف هر اړخیزه مبارزه کړی دی او دظفردجهاد وال غوند قوماندان په صفت یی ډیری قربانی ورکړی دی چی یو ځل پخپله د روسانو سره په مخامخ جنګ ټپي هم شو.

ترڅو چه کمونیستی رژیم راوپرځیدو او دمجاهدینو حکومت راغی.

دشهید وصیت :

شهید حافظ القرآن محمد رحمه الله د ښو اخلاقو خاوند ، خاموش صفته مجاهد ، همدارنګه د شهید همیشه دا ارمانؤ چه اشغالګرو قواوو سره مخامخ جګړه کښی شهید شی، هما غه ؤ چه صلیبی قواوي د چهاردهي سیمی ته دعملیاتو دپاره را روانؤ چه دمجاهدینو لخوا د کمین سره مخ شول او دری ساعته سخت جنګ وشو چی دصلیبی او اشغالګرو دوه زغروال تانګونه ویجاړ کړل او پکی سپاره ټول امریکائی عسکراو اجیری اردوعسکر مردارشول او د جهنم کندی ته ورټیل ووهل شول.

چه د حوت دمیاشتی د خالی په ورځ ۱۳۹۳ه ش سمون خوری شهید حافظ القرآن محمد رحمه الله سره دلسو ملګرو سره د شهادت لوړی مقام ته په شهادت ورسیدل ، نوموړی شهید خپل یو ملګری ته د تلیفون په واسطه خپل ملګروته دا وصیت کړی ؤ چی د وه رکعات لمونځ وکړي او دعاراته وکړي، او ماته بخشش وکړیؤ بیا به په ورځ د قیامت سره ګورو.

د نوموړی شهید همیشه دا آرمانؤ چی مخامخ جګړه کی شهید شي ، ده دنیا هیڅ شي ورته خوند نه ورکاوه ، د الله او دهغه په رسول باندی مئین ؤ.

اکثر وخت به یی جومات کی تیراو وه ، داشراق لمونځ او ده ځابنت لمونځ پابندی کونکی ، د حرامو څخه به ځان ساته او د عیشو کارونو او لوبو څخه به لیری ګرځیدو .

محمد رمضان ترابي

د شهید عبید الله جان «جهادمل» ژوند لیک

شهید عبیدالله «جهادمل» د شهید صوفي محمد انور زوی، د وردګو د سیداباد ولسوالی د شتیز درې د باغک د کلي په یوه دینداره کورنی کښې په ۱۳۷۲/۲/۲۵هش کال د امتحانونو او کړاوونو دې فاني دنیا ته سترګې غړولې.

د شهید عبیدالله «جهادمل» والد مکرم شهید صوفي محمد انور د شوروي اتحاد د سوسیالیستي امپریالیزم پر ضد جهادکښې رغنده رول د تاریخ زرینې کرښې دي، د کمینونو په ترڅ کي یي د سرو روسانو پر کتارونو په زیات شمیر وسلوالو بریدونوکي برخه لرله او په دې سپخلي لاره کي په ۱۳۷۳/۱۱/۲۷هش کال د سیداباد ولسوالی پر مرکز په یوه لویه جګړه

کي له۱۲ تنو نورو مجاهدينو ملګرو سره د شهادت ستر مقام ته ورسيد ، روح دي يي شاد او ياد دي يي تل وي انالله و انا اليه راجعون

د شهيد عبيدالله «جهادمل» شخصيت او مسئوليت

نومورې د افتخاراتو سمبول، د تقوی او ديانت نمونه، نهايتاً مخلص ، په شرعی أمورو کي مطيع له نبو اخلاقو او عاداتو برخمن وو ، په افغانستان کي د صليبی نيواکګرو د اشغال پر مهال د ناټو تړون پر ضد د اسلامی امارت له سرسپارلو غازيانو سره يوځای سو.

د صليبی جګړې په جريان کي لمړی په پټه په مالي او هم به يي عملاً جګړې په ډګر کي برخه اخيسته.

کله چي په ۱۳۹۱/۲/۱۵هش کال ، خان سيد «بلال» د اشغالګرو د بې پيلوټه الوتکو په هوايي بريد کي شهيد شو ، عبيدالله «جهادمل» د جهاد په ليکو کي د يوه غښتلي مجاهد په توګه را څرګند شو ، د اشغالګرو او د ګوډاکي رژيم په مزدورو عسکرو او کارمندانو يې کارنده بريدونه ترسره کړل ، د شهيد حاجی صاحب زيارت ګل د وتلي ګروف مرستيال او د سيداباد ولسوالي په نظامي کميسيون کي عضو او د منفجره موادو مسئوليت يي هم په غاړه وو ، له شهادت ۱۹ ورځې مخکې د سيداباد ولسوالي د ماشين کلا په سيمه کي په يوه وسلوال بريد کي پر پښه او لاس باندي زخمی هم شو.

د اسلام دلارې د سرسپارلي لښکر وتلی لاروی ، ځيرک ، هوښيار ، او بردبار شخصيت ـ محمد عبيدالله جان «جهادمل» او ورسره دوه ۲ نور ملګري هريو سعود احمد چي په حکيم الله هم مشهور وو او ولي جان ټول د وردګو د سيداباد ولسوالي د جنګ جاي په سيمه کي د اشغالګرو د بې پيلوټه الوتکې په هوايی بريد کي د شهادت لوړ مقام ته ورسيدل انالله وانااليه راجعون

{د شهيد الحاج زيارت ګل (شمشاد) ژوندليک}

شهيد الحاج زيارت ګل (شمشاد) د حاجی ملوک زوی د وردګو ولايت د سيدآباد ولسوالي د هفت اسياب د حکيم ښاره کلي په يوه ديندار کورنۍ کښي په (۱۳۷۰) هجري شمسی کال کي دې فاني دنيا ته سترګې غړولې، د ژوند په هسکو او ټيټو کي د ستاينې وړ ځانګړتياوې به ئې د ميړني اولس فداکارو شازلميو ته له ويارې ډک افتخاري سمبول وي.

د اسلام د سپځلي لارې د دې اتل سپه سالار، د جهاد په زرینه پانه کې رنګینې کرښې به ان شاءالله د ځوان نسل همیشنی تګلاره وي.

پر افغانستان د امریکا او متحدینو د وحشي یرغل پرمهال شهید حاجي صاحب زیارت ګل په سعودی عربستان کې وو، هلته د ژوند اړوند ضرورتونو په بناء د موروپلار، وروڼو او خپل اولاد لپاره د حلالې نفقې په برابرولو مصروف وو.

پر عراق د امریکا د متجاوز ائتلاف استکباري یرغل او هلته د جهادي خوځښت له پیل سره سم د عربي نړۍ د ځوان نسل تنکي ځوانان د جهاد دفریضې د اداء په موخه د اسلامی مکلفیت له مخې د یهودي او عیسایي نیواکګرو د ځپلو او له اسلامی نړۍ څخه په تور مخ د شړلو په منظور د عراق په لور وخوځیدل، بناءً حاجي صاحب زیارت ګل هم له سعودي عربستان څخه د مجاهدینو له یوې ډلې سره په زیات شوق او حماسي جذبه د الله جل جلاله د عظیم الشان أمر د ترسره کولو په نیت د دې سپځلي سریې ملګری شو، داچې په دې څپانده اراده کې ئې د په زړه پورې آرمانونو پوره کیدل د قسمت د موجونو تر تقدیري پوښښ لاندې راغلل او دا تنکی هڅه یې په نیمګړې لارکې خوانیمرګه او یا هم نیمه خوا شوه.

دکیسې تفصیل یې داسې و:

خپله حاجی زیارت ګل ویل له سعودي عربستان څخه د مجاهدینو له یوې سریې سره ملګری شوم، چې د جهاد په نیت عراق ته روان وو. له مونږ سره موټر او په موټرو کې اسلحه وه، د سعودی او عراق ترمینځ دیوه سرحدي ښار په یوه مسجد کې مو لمونځ اداء کولو چې د سعودی عربستان اجیرې شرطې مسجد محاصره کړ او نښته پیل شوه چې په نتیجه کې یې زمونږ څو تنه ملګری شهیدان شول او مونږ څوتنه د سعودی حکومت شرطې په اسارت ونیولو او زندان ته یې انتقال کړو، د تحقیق پر مهال چې له ما نه پوښتنه وشوه؛ ما ورته وویل: زه افغانی یم اوله خپل کفیل سره مې لانجه کړې ده او دلته راتښتیدلی یم، غوښتل مې چې په دغه صحرایی سیمو کې د سعودی د حکومت او کفیل څخه پټ یو کاروبار وکړم او خپلو اولادونو ته نفقه برابره کړم او ورویې لیږم، اوس مې په دې مسجد کې لمونځ کاوه چې دغه لانجه پښه شوه او زه هم تاسي له دې برید کوونکو سره یوځای ونیولم.

یاده دي وي چي: دا تحقیق ماته زما هغو مجاهدو ملګرو راوښود چي زه ورسره د جهاد په اراده عراق ته روان وم، ۸میاشتې مي په بندیخانه کي تیري کړې او وروسته د اجنبي په تور او د سعودی عربستان له قانون نه په خلاف ورزي افغانستان ته سفر شوم.

شهید حاجی صاحب زیارت ګل په ۱۳۸۲هش کال د وردګو ولایت د سیداباد په ولسوالي کي د جهاد او قربانۍ په اراده د افغانستان د اسلامی امارت د سرښندونکي لښکر ملګری شو او د امریکایي ښکېلاک پر ضد یې په ګڼ شمیر بریدونو کي برخه لرله او هم د ګڼو بریدونو تنظیموونکی وو.

ملاتاج محمد چي د هغه وخت یو وتلی او د جنګي تکتیکونو یو ماهر سرګروپ وو، د حاجی زیارت ګل په اړه داسي وایي: ۱۳۸۲هش کال غالباً د پسرلي لومړنی (حمل) میاشت به وه، زه د سیداباد ولسوالي د ډنډوکي په کلي کي ووم، چي حاجی زیارت راغی او له ما سره یې په جهاد بیعت وکړ او مونږ په دغه ۱۳۸۲هش کال کي د زیاتو کمینونو په ترڅ کي پر دښمن وسلوال بریدونه ترسره کړل، له دې جملې په ۱۵ وسلوالو بریدونو کي چې د خواجه احمدبابا، اوترپو، ملیخلو، حیدرخیلو سیمو کي یوازي او یوازي پر صلیبي یرغلګرو ترسره شوي، حاجی زیارت ګل له مونږ سره شرکت درلود، د خواجه احمدبابا په کمین کي یو ځل په لاس باندي زخمي هم شو.

په «۱۳۸۷» هش کال کښې حاجی زیارت ګل په «۷» وسلوالو بریدونو کي چې په مکار دښمن ترسره شوی برخه واخیسته.

جناب حاجی صاحب زیارت ګل په: ۱۹ {سرطان} ۱۳۹۲ هجری شمسی کال د چارشنبې په ورځ د اشغالګرو د وحشي بمبار په ترڅ کي د ډنډوکي په سیمه کي په داسي حال کي چې د دښمن کاروان او محافظین یې د دهشکې تر سخت برید لاندې نیولی وو، په شهادت ورسید، انالله و انا الیه راجعون.

د روژې په مبارکه میاشت کې د بدن مقاومت کمیږي، یو شمیر خوړو او میوو ته اړتیا وي چې وکولای شي بدن له کمزوري کیدو څخه وژغوري، د اړتیا وړ ویټامین یې ور پوره کړي او بدن ته یې ډیره انرژي ورکړي.

خرما چې د اسلامي لارښودنو په رڼا کې یې ښه یادونه شوې او روژه ماتول هم پرې ثواب لري، په خپل جوړښت کې ویټامین بی (B) پوتاشیم، کلسیم او مګنیزیم لري او د دې

روژه نیوونکو لپاره انرژي لرونکي میوې

ژباړن : بلال سادات

ویتامینونو کموالی په بدن کې کمزوري او نور مشکلات رامنځ ته کوي. د خرما خوړوالی هم د خوړو په هضم کې مهم رول لوبولی شي

تازه او وچ زردالو هم ویتامین بی (B) ویتامین سي(C) پوتاشیم، کلسیم او وسپنه لري او د روژې په میاشت کې د دې میوې خوړل ډیر ګټور دي ځیرنو ښودلې چې زردالو د یو شمیر مرضونو د رامنځ ته کیدو مخنیوی هم کوي

دغه راز انځر چې په جوړښت کې یې پوتاشیم، مګنیزیم، مس ، وسپنه او کلسیم شته او انسان تري په سرعت سره انرژي ترلاسه کولای شي، د وینې په جوړښت او د معدې په فعالیت کې ډیره مرسته کوي.

او همدارنګه یو ډول توري الوچې چې خوړل یې په روژه کې د انسان د وجود په مقاومت کې ډیره مرسته کوي د ښکلې خوند ترڅنګ بیلابیل ویتامینونه هم لري، په الوچه کې ویتامین ای (A) ویتامین بی (B) پوتاشیم، فاسفورس، وسپنه، کلسیم او مګنیزیم هم شته

دا هغه میووې دي چې که یوکس یې په روژه کې وکاروي د اړتیا وړ انرژي به یې ترلاسه کړي او د بدن د مقاومت د کمزوري کیدو څخه به یې مخنیوی شوی وي.

دافغانستان اسلامي امارت
وفرهنګي چارو کميسيون

مورچل

میاشتیني خبرونه
دتلفاتو میاشتینی جدول

اتم کال دریمه . پرلپسې ۶۷ګڼه . جمادی الالی ۱۴۳۵ مارچ ۲۰۱۴م

دجهادي عملياتو انځورګر ولايتونه

شماره	ولایت	صفحه
۱	کابل	۵۷
۲	غزنی	۵۹
۳	میدان وردګ	۶۳
۴	لوګر	۶۵
۵	خوست	۶۸
۶	پکتیا	۷۰
۷	پکتیکا	۷۴
۸	ننګرهار	۷۶
۹	کنر	۹۱
۱۰	لغمن	۹۹
۱۱	کاپیسا	۱۰۲
۱۲	غازی آباد	۱۰۳
۱۳	پروان	۱۰۶
۱۴	کندهار	۱۱۰
۱۵	هلمند	۱۱۳
۱۶	ارزګان	۱۲۷
۱۷	زابل	۱۳۱

شماره	ولایت	صفحه
۱۸	فراه	۱۳۵
۱۹	دایکندی	۱۳۸
۲۰	قندوز	۱۳۸
۲۱	بغلان	۱۴۰
۲۲	تخار	۱۴۱
۲۳	بدخشن	۱۴۱
۲۴	بلغ	۱۴۳
۲۵	جوزجان	۱۴۳
۲۶	سرپل	۱۴۴
۲۷	فاریاب	۱۴۶
۲۸	هرات	۱۴۹
۲۹	بادغیس	۱۵۵
۳۰	غور	۱۵۶
۳۱	نیمروز	۱۵۷
۳۲		
		۰

باران

قاري عبدالستار سعيد

دښتې په ګلو غرونه غواړي په څيړيو باران
کليوال وايي خدای دې وکړي په للميو باران

دتړيو زړونوله براسونو نه مو وريځ جوړيږي
تل مو راغوښتی دی په سويو اسويلیو باران

خدايه له دې نه هم لالوی رحم ته لاړې څارو
